ISLAMIC EMIRATE of AFGHANISTAN
MINISTRY of FOREIGN AFFAIRS
MOFA

د افغانستان اسلامي امارت
وزارت امور خارجه
Ministry of Foreign Affairs

# ستوری

نوی پړاو- دریيمه او څلورمه ګڼه- ۱۴۰۲- ۱۴۴۵



تر څو چې داخلي اقتصاد ژوندی نه شي، د مرستو پیسې لسګونو میلیونونو خلکو ته ډوډۍ نه شي ورکولای.

**FOREIGN AID CAN NOT FEED TENS OF MILLIONS OF PEOPLE UNLESS INTERNAL ECONOMIC SECTOR IS REVIVED.**

FM MUTTAQI

## د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست

اسلام اصله سیاست

اقتصاد محوره سیاست

متوازن سیاست

دفتر سخنگو و ریاست اطلاعات عامه
وزارت امور خارجه

د بهرنیو چارو وزارت

Ministry *of* Foreign Affairs

# پیلیزه

په تېرو څلوېښتو کلونو کې د لومړي ځل لپاره د هېواد د سراسري امنیت ټینګښت او تر واحد مرکزي حاکمیت لاندې راوستل هغه معجزه وه، چې د افغانستان په معاصر تاریخ کې له تصور لوړه او بې سارې وه؛ همدا لاسته راوړنه او لوی نعمت د الله تعالی په ځانګړې رحم، د مجاهدینو په بې شمېره قربانیو، د اسلامي امارت د مشرانو په سیاسي ځیرکتیا او د بشپړ استقلالیت پر بنسټ نن، لله الحمد، یو حقیقت دی.

په هېواد کې د اسلامي نظام له راتګ وروسته د سیمې او نړۍ له ډېرى هېوادونو سره د دوه اړخیز او متقابل درناوي پر بنسټ اړیکې اعاده او عادي شوې، د هېواد په کچه ځینې بشپړې درېدلې اداري بېرته فعالې شوې، د وارداتي برېښنا ملا ماتوونکي پاتې پوروونه ادا شوي او د حکیم مشر تر قیادت لاندې د اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنسټ بهرنۍ سیاست ترسیم شوی دی.

د لوراند څښتن تعالی په فضل، اوس مو وطن خپلواک دی، هېواد مو د اشغال له تیارو خلاص شوی دی او هر اړخیز پرمختګونه روان دي، په اقتصادي برخه کې د قوشتېپې د ستر کانال په څېر پروژې د ځان بسیاینې پر لور ګرندي ګامونه بلل کیږي، نننی افغانستان له خپل جغرافیایي موقعیت څخه اغېزمنه ګټه پورته کړې ده، د تاپي او کاسا ۱۰۰۰ سیمه ییزو سترو پروژو د چارو اړوند بحثونه او بیا پیل یې جوتې ښېلګې دي.

د هېواد روان اقتصاد مو د پخوا په څېر پر پردیو مرستو او بسپنو متکي نه دی، امارت خپلې ورځنۍ خدماتي چارې او د ټولو کارکوونکو معاشونه له خپلو داخلي عوایدو او ملي بودیجې څخه په بشپړ ډاډ ورکوي.

له بهرنۍ نړۍ سره مو اړیکې د حسن تعامل، متقابل درنښت او د هېواد د علیا ګټو پر بنیاد دي، څه موده وړاندې قطري پلازمېنې دوحې ته د بهرنیو چارو د ښاغلي وزیر په مشرۍ د تللي هیئت او هلته له امریکایي استازو سره ناسته د هېواد د ګټو خوندیتوب او له نړۍ سره د تعامل د دوام لپاره وه، چې له نورې بهرنۍ نړۍ سره به هم دوام وکړي.

پر هېواد د اسلامي امارت له واکمنۍ تر دې دمه له افغانستان سره د نړیوالو د سیاسي تعامل او نړیوالې رسمیت پېژندنې پر وړاندې لا هم امریکا او غربي ملاتړې یې په یوه او بله بهانه خنډونه رامنځته کوي او غواړي د سیمې او نړۍ له اړخه زموږ د خپلواک هېواد رسمیت پېژندنې چارې ټکنۍ کړي، چې لا هم کوم هېواد په ښکاره توګه له خپله اړخه د رسمیت پیژندنې اعلان نه دی کړی؛ خو له ا.ا.ا سره ضمني هر اړخیز تعامل، د سفیرانو تر کچې د اسلامي امارت د استازو منل او لسګونو هېوادونو ته د امارتي ډیپلوماټانو استول او د هغوی له اړخه یې منل د رسمیت پېژندنې څرګند ګامونه دي او همدا له اسلامي امارت سره د دوه اړخیزو او څو اړخیزو رسمي اړیکو ښکارندویي کوي.

د نړۍ له اړخه د اسلامي امارت بشپړه رسمیت پیژندنه، که څه هم په سوداګریزو او ورته نورو برخو کې د اسلامي امارت او هېواد په ګټه ده؛ خو زموږ له اړتیا سربېره ډېرى بهرني هیوادونه هم اړ دي، چې اسلامي امارت په رسمیت وپیژني او رسمي هر اړخیزه اړیکې ورسره وپالي.

د ستوري مجلې په دربیمه او څلورمه ګڼه د بهرنیو چارو وزارت وروستي پرمختګونه، د وزارت د مشرتابه مهمې لیدنې او په دې لړ کې سیاسي او اقتصادي مقالې او راپورونه وړاندې شوي دي، چې د اسلامي امارت د شاوخوا دوه کلنو لاسته راوړنو یادونه، له نړۍ سره پر متقابل احترام ولاړو دوستانه اړیکو پراختیا او پیاوړتیا او د غربي دوه مخیزې بشر پالنې موضوعاتو څېړنه یې اساسي برخې دي.

د اسلامي، خپلواک او متحد افغانستان په لور

# یادونه

د مجلې اداره د لیکنو په سمون او اوډون کې واک لري. د ستوري مجلې اداره د لیکوالانو د سیاسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنیزو لیکنو هرکلی کوي. ددې مجلې د بشپړ حقونو واک د بهرنیو چارو وزارت د ویاند دفتر او عامه اړیکو له ریاست سره دي.

هغه لیکنې چې د لیکوال نوم ورسره یاد شوی وي، د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي اندونو استازیتوب نه کوي. د سرچینې په یادولو سره؛ د مجلې د لیکنو او محتوا اخیستل اجازه لري.

ستوری مجله د خرڅلاو لپاره نه ده.

## ددې ګڼې مطالب


| | |
|---|---|
| ۱ | فرصتونه او مسئولیتونه ( د بهرنیو چارو وزیر) |
| ۴ | اسلامي امارت او له نړۍ‌سره پر دوستانه اړیکو باور |
| ۵ | علم؛ مادر سیاست، امنیت، اقتصاد، تمدن و تکنالوژی است |
| ۷ | دستاوردهای سیاسی دوساله امارت اسلامی افغانستان |
| ۱۰ | ترانزیټي لارو جوړول او د بهرنیو پانګونو جلبول مو ثبات او پرمختګ تضمینوي |
| ۱۳ | عهده دار شدن حکومت اسلامی، یک مسئولیت عظیم و یک اداره معنوی است؛نه یک منصب دنیوی |
| ۱۵ | اسلام نړۍ‌ته څهٔ وړاندې کړل؟! دویمه برخه |
| ۱۸ | د افغانستان د اوسپنې پټلۍ |
| ۲۱ | بررسی چگونگی اصل صلاحیت جهانی در محکمه جزای بین المللی |
| ۲۵ | له پژواک سره د بهرنیو چارو وزارت د مرستیاڵ ویاند مرکه |
| ۲۸ | سودای حقوق بشر جهانی؛ در جهانی واقع‌گرا؟ |
| ۳۱ | انځوریزې وېناوې Infographics |
| ۴۲ | اېکس پوسټونه x posts |



ستوری دوره جدید، شماره سوم و چهارم، ۱۴۰۲_۱۴۴۵

**صاحب امتیاز:** وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان

**مدیر مسئول:** عبد القهار بلخي، سخنگو و رئیس اطلاعات عامه.



**هیئت تحریر:**
دکتور عبد الجبار بهیر، حافظ ضیاء احمد تکل، عبد الرشید صافی، مفتي نور الله عزام، محمد علي عالمي و سید نذیر احمد هاشمي.



**طراح مجله:** محمد ادریس نبیل



+93202100372
publications@mfa.gov.af
mfa.gov.af
@mofa_afg

ملک اصغر څلور لارې، کابل ـ افغانستان

# فرصتونه او مسئولیتونه

## د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي

د2021م کال د اګسټ 15مې له تحول راهیسې، چې څه باندې یو نیم کال تېرېږي، د افغانستان وضعیت د ټولو هغو منفي تحلیلونو او وېروونکو وړاندوینو پرخلاف چې له تحول مخکې وړاندې کېدل، برعکس ډېر مثبت دی. د مذاکراتو پرمهال، د نوییمو کلونو ویجاړوونکي کورنۍ جګړې وېروونکي وړاندوینې د دوحې د هوټلونو په لابي ګانو کې د اکثرو بهرنیو ډیپلوماتانو پر ژبو جاري وه؛ خو زموږ مسئولینو پېښو ته له بلې زاویې کتل او ورته مو پر وخت لازمي تیارۍ ونیولې. موږ نه یوازې دا چې پر پلازمېنه او د وطن پر سترو ښارونو واکمن شو، بلکې د کورنۍ جګړې د کمزورو احتمالونو پر وړاندې مو هم پاخه تدابیر ونیول او د عفوې او ورورګلوۍ په انساني او اسلامي پیغام مو ټولې اندېښنې په عمل کې خواب کړې.
نن، نه یوازې دا چې جګړه پای ته رسېدلې، بلکې افغانستان په تېرو څه باندې څلورو لسیزو کې په لومړي ځل د یوه خپلواک، واکمن، متحد، مرکزي او مسئول حکومت له خوا اداره کېږي. موږ په دې لنډه موده کې په ګڼو مواردو کې د تېرې دورې د مُهلکې اتکاء پر وړاندې هڅې کوو او د افغان ظرفیت جوړونې له لارې چارې افغاني کوو. دا پر خپله خاوره زموږ د مالکیت حس لا غښتلی کوي.
موږ پوهېږو، چې اوسمهالې نړۍ کې نړیوالو اړیکو د دولتي او نادولتي لوبغاړو ترمنځ د رغنده تعامل په نتیجه کې ښه پرمختګونه کړي دي. پر دوه اړخیز درناوي او مشترکو ګټو ولاړې اړیکې د وخت اړتیا او د ټولو لوریو د ګټو د خوندیتوب معقوله لار ده. د افغانستان اوسنی حکومت پر همدې ذهنیت نړۍ سره د مثبت تعامل لپاره لاس اوږدوي. موږ فکر کوو چې اوس د افغانستان او نړۍ ترمنځ د مثبتو اړیکو جوړولو بې‌ساری فرصت رامنځ ته شوی دی.په کور دننه د افغاني ټولنې وحدت تر بل هر وخت زیات پیاوړی شوی او موږ یې پر ځانګړي متنوع جوړښت ویاړو، موږ د اکثریت او اقلیت پر وېش باور نه لرو، د هېواد هر وګړی د یوه واحد کُل،نه بېلېدونکې برخه ده.
شرائط دې ته ډېر ښه اماده دي چې افغانستان د نړۍ د امنیت په برخه کې د خپل مسئولیت ترسره کولو له لارې د نړیوالې ټولنې د یوه مسئول او خپلواک غړي په توګه را پورته شي او نړیواله ټولنه ورته د خپلواکۍ د احترام او پر خپلو پېښو دربدلو کې د مرستې له لارې هرکلی وکړي.
له نورې نړۍ سره زموږ اړیکې به د نورو له خپلمنځي سیالیو څخه مستقلې، متوازنې او د متقابل احترام، متقابلو مشروع ګټو، ګډ ژوند او د سبا جوړولو پر اساس ولاړې وي.
زموږ د هغو کورنیو مسائلو په برخه کې چې په بیرون کې ناسمې درک شوي؛ په اړه یې باید پوهاوی رامنځته شي. د افغانستان د اوسني جوړښت او ارزښتونو په باب باید دقیق درک رامنځته شي. زموږ د ټولنې دیني او کلتوري حساسیتونو سره باید په احتیاط تعامل وشي. زموږ نژدې تاریخ ښودلې دلته چې هر نظام تعادل نه دی رامنځته کړی له جدي ننګونو سره مخ شوی دی.موږ له نورو سره د هر ډول شته یا راتلونکو سوءتفاهمونو له منځه وړلو لپاره له سیاسي، اقتصادي او امنیتي فشارونو څخه په پاکې فضا کې پر رښتینو خبرو اترو باور لرو. تجربو ثابته کړې چې په افغانستان کې د فشار اپشنونو نتیجه نه ورکوي.
په افغانستان کې شته بشري وضعیت زموږ او د نړۍ ګډ انساني مسئولیت دی. د بشري ناورینونو د تحمیل له لارې د سیاسي اهدافو د تر لاسه کولو هڅه متمدنه او اخلاقي تګلاره نه ده. په افغانستان کې د اقتصادي ستونزې یو اساسي لامل زموږ پر مالي او بانکي نظام د متحده ایالتونو له خوا لګېدلي بندیزونه دي چې زموږ ډېری ملکي او بشري پروژې یې له خنډ او ځنډ سره مخ کړې دي. د اوسني اقتصادي او بشري وضعیت اساسي حل دا دی، چې د افغانانو پر مالي او بانکي نظام

بندیزونه لرې کړل شي او فرصت ورکړل شي چې افغانان پر خپلو ظرفیتونو او ابتکارونو د بشري ستونزو حل راوباسي. په دې اساس، د امریکا د متحده ایالتونو مسئولیت جوړیږي چې باید د افغان ولس کنګل کړې شتمنۍ ژر تر ژره خوشې او د دوحې تړون په اساس ټول بندیزونه لرې کړي.

پر یوه جګړه‌ځپلې ملت مالي او بانکي بندیزونه به د امریکا لپاره کومه سیاسي او یا ان اخلاقي توجیه ولري؟!

غواړو د امریکا حکومت او ملګرو ته یې ورياده کړو، چې اقتصادي بندیزونه او نور فشارونه فاصلې له منځه نشي وړلی، بلکې یوازې اعتماد کولای شي فاصلې راکمې کړي.

افغانستان چې د نظامونو د ناکامۍ او پاشلتیا یو تاریخ دی چې نړیوالو قوتونو او ایتلافونو یې هم د دې دوران مخه ونه نیولای شوه، اوسني نظام د داسې حکومتدارۍ بنیاد ایښی، چې د تاریخ دا باطل دوران ودروي. د افغانستان د اوسني حکومت د کمزوري کېدو پایله به څه وي؟ بې له دې چې بشري ناورین وي او هغه هم یو داسې هر اړخیز ناورین چې یوازې تر افغانستانه به محدود نه وي، بلکې ګاونډ، سیمې او نړۍ ته به د امنیت، کډوالۍ، اقتصاد، او روغتیا اړوند نوې ننګونې له ځان سره ولري.

له دلایلو پرته، د افغانستان اقتصاد له تېرو دوو لسیزو راهیسې پر بهرنیو مرستو د اعتیاد تر کچې متکي شوی و. په دغه بحراني وخت کې د افغانستان له خلکو سره په لوړه کچه په هر اړخیزو مرستو کې جدي پاملرنه په کار ده.زموږ وړاندیز دا دی چې نړیوالې مرستې په روزګاري

فُرصتونو بدلې شي او د پایدار اغېز د رامنځته کولو په موخه نیمګړې او نوې دولتي پروژې تمویل شي.تر څو چې داخلي اقتصاد ژوندی نه شي، د مرستو پیسې لسګونو میلیونونو خلکو ته ږوږۍ نه شي ورکولای.

د افغانستان د اقتصاد د ژوندي کولو اړین شرائط لکه امنیت، سیاسي اراده، شفافیت او حساب ور کول د بل هر وخت په پرتله زیات موجود دي. اوس اړتیا ده چې بندیزونه لرې شي تر څو افغانان په خپله د خپلې اقتصادي خودکفایي لپاره هڅې وکړي.

د دې تر څنګ، د بین المللي سوداګرۍ، زموږ د ناسپړلو معدني زېرمو د استخراج او د ملي او بین المللي کچې لویو پروژو د تطبیق پر وړاندې پراته خنډونه له منځه یوړل شي تر څو د هېواد اقتصادي بهیر مو خپل عادي حالت ته راستون شي.

په خپل وار موږ د ډاډمن امنیت او سیاسي ارادې له پلوه له هر هېواد سره د ګډو منافعو پر بنسټ شراکت ته چمتو یو. په خپلو پښو ولاړ افغانستان د هر چا په ګټه دی، او له پښو لوېدلی افغانستان د ټولو په زیان دی.

نړیوالې ټولنې ته په کار دي؛ چې د افغانستان له اسلامي امارت سره سیاسي او اقتصادي اړیکې رامنځته کړي، او له افغانستان سره د یوه خپلواک هېواد په توګه چلن پیل کړي. بدیله لار او د تېرو ناکامو تجربو تکرار د هیچا په ګټه نه دی.



اسلامي امارت چې له تېر رژیم او نړیوالو ملګرو څخه یې تش بانکونه، د وارداتي برېښنا د برق بیلونه، مخدره مواد، څلور میلیونه معتادین، اداري فساد، لوږه، بېکاري، په ټپه ولاړ اقتصاد، د کورونا په پلمه بند مکتبونه او نور ډېر مشکلات په میراث ورته پاته شول په تېر یونیم کال کې د پرمختګ ډېر پراوونه ووهل مثلا:

– امنیتي ځواکونه یې منظم او سرتاسري امنیت یې ټینګ کړ او هیچا ته یې فرصت نه دی ورکړی، چې د افغانستان خاوره د نورو په ضد وکاروي.

– مخدره مواد چې ټولې نړۍ ته ضرر و، کښت یې صفر ته را ټیټ کړ، که یې څوک نه مني را دې شي، او وضعیت دې له نږدې څخه وارزوي.

– په لومړي ځل یې خپله هغه بودیجه چې اویا سلنه په بهرنی مرسته ولاړه وه، له خپلو عوایدو چمتو کړه، د اقتصاد بنیادونه یې ملي کړل او سمې لارې ته یې سیخ کړ، د ثبوت په توګه یې د نړیوال بانک ورستی راپور ښه بېلګه ده.

– افغانستان چې د فساد کچې یې نړیوال ریکارډ خپل کړی و، له هغه بد حالت نه یې را وایست چې د روڼتیا نړیوال سازمان راپور یې ښه دلیل دی.

– هیواد والو ته یې هر لور ته د ازاد سفر هوایي او ځمیني تسهیلات برابر کړل چې همدا د نړیوالو غوښتنه هم وه. دا به هم منو چې نړیوالې ټولنې په تېرو شلو کلونو کې دلته په لسګونو زره وسلوال ځواکونه راوستي وو، په لوړه کچه تلفات یې ګالل، د لوړې کچې تجهیزات او ټیکنالوژي یې کاروله او په سلګونو ملیارده ډالر یې مصرف کړل.

ایا کومه مثبته نتیجه یې تر لاسه کړه؟ اوس یې په تېر یو نیم کال کې له افغانستان سره له بشري مرستو پرته نور څه کړي دي؟!

آیا څوک ویلای شي، چې د افغانستان د حکومت د مثبتو اقداماتو په مقابل کې یې د ښه نیت کوم لاس را اوږد کړی؟ او یا یې له تبلیغاتو، اتهاماتو او فشارونو بغیر څه کړي؟!

نو دا حقیقت باید ومنو چې له یوه لاس څخه ټک نه خېژي.



# اسلامي امارت او له نړۍ سره پر دوستانه اړیکو باور

عطاءالله مبارز*

په نړۍ کې شته انسانان بېلا بېلې، مختلفې ستراتيژيکې، سیاسي او اقتصادي موخې او ګټې لري او د لاسته راوړلو لپاره يې لارې چارې هم بېلا بېلې دي؛ خو په يوه خبره اوس تقريبا ټول اتفاق لري، چې د امکان تر حده باید خپلمنځي ستونزې له ډيپلوماتيکو لارو حل شي.

له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د ملګرو ملتونو سازمان هم د همدې هدف لپاره رامنځته شو، چې راتلونکې کې د جګړو او نا امنۍ مخنیوی وشي او د هېوادونو تر منځ د اړیکو او همکاریو د پراختیا په برخه کې يوې باصلاحیته مرجع رول ولوبوي.

که څه هم د ملګرو ملتونو د تاسیس اهداف ښه وو او پکار وه، چې ښه پلې شوي وای؛ خو ځينې هغه مخکښ هېوادونه چې په ښکاره د بشري حقونو او نړیوال امنیت په هکله ډېر ښایسته شعارونه او نعرې لري؛ خو په عمل کې تر ټولو ستر سرغړونکي دي، بشري حقونو او نړیوال امنیت ته تر هرچا د دوی له لوري ډېر ګواښ متوجه دی، عامه وژونکې اټومي وسلې دوی جوړوي او کاروي او په نورو هېوادونو یرغلونه او تاړاک د دوی له خوا کېږي.اسلامي امارت، چې  شاوخوا درې لسيزې کېږي، رامنځته شوی، له لومړۍ ورځې له نړۍ سره د ديني او ملي ارزښتونو او ګټو په چوکاټ کې پر ښو او دوستانه اړيکو باور لري، د خپلې لومړنۍ واکمنۍ پر مهال يې هم له نړۍ سره د اړیکو او تعامل لپاره هڅې وکړې او اوس دا دی چې بیا د چارو واګې په لاس کې لري، هڅه کوي چې د نړۍ او سیمې له هېوادونو سره په متقابل احترام ولاړې، مثبتې او د دیني او ملي ګټو په معیار خپلې اړيکې ورغوي؛ خو متأسفانه چې د نړۍ ځينې هېوادونه د خپلو ناسمو پاليسيو او ځينې نور يې بيا د لوېديځ له ويرې اسلامي امارت سره د رسمي اړيکو په هکله دوه زړي دي. د چارو ډېر کارپوهان په دې نظر هم دي، چې د نړۍ او سیمې هېوادونه تر اوسه پورې ځکه د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې لپاره ګام نه پورته کوي، چې هر یو يې په افغانستان او سیمه کې يو لړ سیاسي، اقتصادي او نظامي موخې لري او غواړي خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د رسمیت پېژندنې موضوع اسلامي امارت باندې د فشار د يوې الې په توګه وکاروي.

خو د افغانستان تاريخ او د اسلامي امارت دريځ او پالیسي ته په کتو داسې ښکاري، چې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره به د نړۍ فشارونه د هغوی لپاره ګټور تمام نشي ؛ ځکه تېر شل کاله امریکا او متحدینو يې په ټول توان سیاسي او نظامي فشارونه وکارول، خو هېڅ نتيجه يې ورنه کړه. نړۍ او سیمه باید ومني، چې افغانستان د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر حق لري، چې د خپلو ديني او ملي ګټو په پام کې نيولو سره د حکومتولۍ، سیاسي تعامل او اړیکو په برخه کې خپلواک تصمیم ونيسي، نړۍ باید د افغانانو ديني او ملي ګټو او خپلواکۍ ته احترام ولري او نور د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنې پرېږدي.

نړیواله ټولنه باید د ډيپلوماتيکو او سیاسي اړیکو د رغولو په برخه کې د اسلامي امارت دريځ ته په درنه سترګه وګوري او خپلې ګټې دې د ډيپلوماتيکو او سیاسي چینلونو له لارې تعقیب کړي. په سیاسي او اقتصادي برخو کې د افغانستان منزوي کول نه یوازې د افغان ملت په زیان دي، بلکې نړۍ او سیمه به هم د افغانستان له منزوي کېدو او بې ثباته کېدو څخه زیانونه وګالي.

*لیکوال او شنناد

# علم؛ مادر سیاست، امنیت، اقتصاد، تمدن و تکنالوژی است

عبدالله حامد تاتار*

علم در حقیقت تولیدکننده و زاینده‌ی همه سعادت‌ها و نیک‌بختی هاست.

اگر نور علم نمی‌بود همه چیز در هاله‌ی ابهام، پنهان می‌ماند و بدون علم هیچ کشتی ای به ساحل مقصود نمی‌رسد و هیچ کاروانی راه به سرمنزلی نمی‌رساند.

جوامع و مللی که امروز به اوج ترقی و تعالی رسیده اند و حرف از ابرقدرت‌بودن و تمدن می‌زنند، آنان در عرصه‌ی آموختن علم و دانش زحمت کشیده اند و در راه به دست آوردن علم و حکمت، تلاش‌های همه جانبه و بی‌حدوحصری انجام داده اند.

اگر علم نمی‌بود، بدون شک امروز جوامع بشری در باتلاق تاریکی‌ها غرق بودند و ابر سیاه جهالت بر تمام شئون زنده‌گی بشر سایه افگنده بود و مردم در یک فضای مبهم و سردرگمی به سر می‌بردند. پروردگار عالم اکیداً انسان‌ها را به آموختن علم دعوت می‌کند و به سفره‌ی رنگین دانش فرا می‌خواند.

قرآن کریم که کتاب زنده و باحکمت الهی و بزرگ‌ترین دستورالعمل برای مسلمانان است، تمام بشر را به فراگیری علم ترغیب می‌کند و بر ارزش دانش و طلب حکمت تاکید می‌نماید.

این کتاب سرنوشت‌ساز درجات عالمان و دانشمندان را عالی توصیف کرده و جایگاه شان را بلند معرفی می‌نماید.

پیامبر بزرگوار اسلام، نبی نور و رحمت (ص) نیز علم را نور توصیف کرده، علما را منبع خیر و سعادت می داند و امتش را از گهواره تا گور به فراگیری علم و دانش فرامی‌خواند.




اسلام عزیز فطرتاً از جهل نفرت دارد و انزجار و بیزاری عمیق خود را از صبح ازل تا شام ابد از جاهلان ابراز داشته است و همچنان اسلام علما و دانشمند بزرگ جهان را در آغوش خود پرورش داده که امروز نام آنان، گل سرسبد تاریخ جهان و جهانیان است. شکوفایی اقتصاد، تمدن، سیاست، امنیت و تکنالوژی، بیشتر از افکار بلند و کارنامه های درخشان عالمان و دانشمندان مسلمان سرچشمه گرفته است که حتی جهان کفر به نام نامی آنان می‌نازند و فخر می‌نمایند.

کارنامه‌های تابناک پیامبران الهی، اصحاب کرام و دیگر حماسه آفرینان و دانشمندان مسلمان، گواه روشنی بر مترقی بودن و دلیل مبرمی بر متمدن بودن ما مسلمانان است.

هیچ کسی از تمدن‌های اسلامی و خدمات شایان و ارزشمند فرزندان مسلمان در جهان، چشم‌پوشی کرده نمی‌تواند و کارنامه‌های هریک شان از آفتاب روشن‌تر است. اما دردا و دریغا که در قرن‌های پسین، قدرت‌های کفری و مستکبران خون‌آشام، مذبوحانه برای عقب‌زدن جهان اسلام و امت مسلمه توطئه چیدند و با عناوین مختلف مسلمانان را از نعمت علم و دانش و تکنالوژی، دور نگه داشتند.

بدبختانه در قرن‌های اخیر، مسلمانان خود نیز سهل‌انگاری کردند، تن به تنبلی دادند و برای به‌وجود آوردن تمدن و اقتدار اسلامی تلاش شایانی نورزیدند.

*لیکوال او شاعر

بالاخره دسیسه‌ی دشمنان اسلام و غفلت مسلمین، دستی به‌هم داده، باعث عقب‌مانده‌گی و قهقرای جهان اسلام گردید.

امروز بر علما و دانشمندان مسلمان، اشد ضرور است که برای بیداری امت اسلامی و دفع دسیسه‌های دشمن، کار کنند و جهان اسلام را از ورطه‌ی پس‌مانده‌گی و منجلاب فقر، بیچارگی و بدبختی نجات بدهند.

بدون تردید یگانه گزینه‌یی که جهان اسلام را از این بن‌بست‌ها و چالش ها بیرون می‌آورد همانا علم و دانش و حکمت است و همچنان حاکم شدن اقتدار اسلامی.

خواننده‌گان گرامی!

علم است که نعمت توحید و گوهر گران‌بهای شریعت را به ما به معرفی می‌گیرد و دست ما را گرفته به سعادت، رفاه، رستگاری و انکشافات می رساند.

علما و دانشمندان با نور علم، خدای حکیم و لایزال را می‌شناسند و در پرتو آن به طاعات و عبادات و بنده‌گی می‌پردازند.




چنانچه شاعری گفته است:

چو شمع از پی علم باید گداخت
که بی علم نتوان خدا را شناخت

از همین سبب است، امروز اکثر کافرانی که به دین مقدس اسلام مشرّف می‌شوند، مسلمان تحقیقی استند و در نتیجه‌ی کشف و تحقیق علمی، ایمان آورده اند و تا آخرین نفس در پای عقیده و باور خویش، ایستاده‌گی می‌نمایند.

قرآن؛ کتابی علمی‌ست که سعادت دنیا و آخرت را تضمین کرده است و در همه ادوار تاریخ، انسان را در فضای باز و روشن علم و بصیرت فرا خوانده است.

اگر یقیناً مسلمانان به شکل اکادمیک و علمی به قرآن مراجعه کنند، نه تنها احتیاجات و نیازمندی‌های شان مرفوع می‌گردد، بل‌که برای همیشه به قله‌های شامخ اقتصاد، سیاست، امنیت، اقتدار، تکنالوژی و تمدن می‌رسند.

چون علم نور است و در سایه‌ی نور، تمام نیک‌بختی‌ها قامت بلند می کنند، درخت سعادت به رشد و بالنده‌گی می‌رسد و به درستی به ثمر می‌نشیند.

پس بر امت مسلمه و خصوصاً ملت باشهامت، مجاهد و زجردیده‌ی افغانستان است که با علم خو بگیرند و از میوه‌ی دانش و حکمت استفاده اعظمی ببرند و با این چراغ که رهگشای تمام بشر است، به مسیر آبادانی و شکوفایی، پیوسته در حرکت باشند.

# دستاوردهای سیاسی دوساله امارت اسلامی افغانستان

امارت اسلامی افغانستان با توجه به وضعیت سیاسی و اقتصادی منطقه و جهان، سیاست خارجی «متوازن» و «اقتصادمحور» را انتخاب نمود و برای تحقق آن تا کنون تلاش نموده است. اخذ و تطبیق این نوع سیاست خارجی دستاوردهای سیاسی ذیل را به همراه داشته است:

**توسعه روابط دیپلوماتیک با جامعه جهانی، منطقه و همسایگان از طریق دیپلوماسی دوجانبه**

رهبری وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان برای تحقق منافع ملی در تعاملات با دیگرکشورها دیپلوماسی دوجانبه را در پیش گرفته است. در این راستا ملاقات‌ها، تماس‌های تلیفونی و صدور اعلامیه‌های رسمی متعددی صورت گرفته است.

در این زمینه دیدار با مقامات کشورهای پاکستان، ایران، هندوستان، ایالات متحده امریکا، روسیه، جاپان، چین، مالیزیا، کشورهای اروپایی، نمایندگان اتحادیه اروپا، کشورهای آسیای میانه، کشورهای شرق میانه، نمایندگان سازمان‌ها و نهادهای بین‌المللی، صلیب سرخ و سازمان همکاری اسلامی را می‌توان نام برد.







در این ملاقات‌ها محترم مولوی امیرخان متقی، سرپرست وزارت امور خارجه بر ضرورت ایجاد روابط سازنده، واگذاری نمایندگی‌های سیاسی و قونسلی افغانستان به امارت اسلامی، پذیرش نمایندگان دیپلوماتیک، افزایش همکاری‌های سیاسی، اقتصادی، فرهنگی و بشری، جلب سرمایه گذاری خارجی و همکاری تجاری تاکید نموده است.

این تلاش‌ها زمینه افزایش همکاری و واگذاری نمایندگی‌های سیاسی و قونسلی افغانستان در کشورهای همسایه به امارت اسلامی و زمینه سازی اعتمادسازی با جامعه جهانی را فراهم نموده است.

**توسعه روابط دیپلوماتیک با جامعه جهانی، منطقه و همسایگان از طریق دیپلوماسی چندجانبه**

امارت اسلامی افغانستان دیپلوماسی چندجانبه را نیز مورد توجه قرار داده و تلاش نموده از ظرفیت‌های چندجانبه‌گرایی بیشترین استفاده صورت گیرد.

مهمترین تحولات در حوزه دیپلوماسی چندجانبه‌که امارت اسلامی با جامعه جهانی مورد توجه قرار داده عبارتند از: ملاقات‌های متعدد سرپرست وزارت امور خارجه امارت اسلامی با نمایندگان سازمان‌های بین‌المللی (از جمله سازمان ملل متحد)، سازمان‌های منطقه‌ای به شکل چندجانبه و شرکت در نشست‌های بین‌المللی مانند نشست وزرای خارجه سازمان کشورهای اسلامی در اسلام‌آباد، نشست چین، نشست سه‌جانبه قطر، نشست آنتالیا، نشست ناروی، نشست تاشکند، شرکت در نشست وزرای امور خارجه کشورهای همسایه افغانستان در چین و سایر

نشست‌های منطقه‌ای و بین‌المللی.

در این نشست‌ها، محترم مولوی امیرخان متقی سرپرست وزارت امور خارجه آمادگی امارت اسلامی برای همکاری با جامعه جهانی و کشورهای منطقه و همسایه در حل چالش‌های جهانی مثل محیط زیست، قاچاق مواد مخدر، قاچاق انسان و پایان دادن به جنگ را اعلام نموده است.

در این دیپلوماسی برای احیای طرح‌های اقتصادی با محوریت افغانستان مانند پروژه تاپی، کاسا یک هزار و سایر پروژه‌های اتصال منطقه‌ای در حوزه انرژی تلاش صورت گرفته است که از اهمیت اقتصادی ویژه‌ای برای افغانستان برخوردار است. وزارت امور خارجه امارت اسلامی برای جلب حمایت‌های مالی در جهت عملی شدن این پروژه‌ها نشست‌هایی را نیز برگزار نموده است.وزارت امور خارجه امارت اسلامی با استفاده از دیپلوماسی چندجانبه به تطبیق سیاست پولی کشور نیز کمک نموده و در هماهنگی نزدیک  با دافغانستان بانک زمینه سفر مسئولین این بانک را به کشورهای پولند، قطر و فرانسه جهت اشتراک در کنفرانس‌ها، هماهنگی و چاپ بانکنوت‌های جدید افغانی مساعد ساخته است.

در چارچوب دیپلوماسی چندجانبه طرح انتقال مواد نفتی و گاز از ترکمنستان به پاکستان نیز مورد توجه قرار گرفته است. طرح پیشنهادی انتقال گاز و مواد نفتی ترکمنستان به پاکستان از مسیر افغانستان با هماهنگی ریاست روابط اقتصادی وزارت امور خارجه و اشتراک نمایندگان وزارت‌های مالیه، صنعت و تجارت، ترانسپورت و هوانوردی و اداره نفت و گاز تهیه گردید و به کمیته ملی ترانزیت و کمیسیون اقتصادی ارائه گردید. در نتیجه مورد تائید مقام محترم معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا نیز قرار گرفت که این طرح نقش موثری را در گسترش بیشتر روابط تجارتی و ترانسپورتی میان سه کشور دارد.

به‌کارگیری دیپلوماسی چندجانبه از جانب امارت اسلامی باعث تغییر رویکرد منطقه و جامعه جهانی در راستای تعامل سازنده با افغانستان شده است.






**تلاش برای فعال شدن نمایندگی‌های سیاسی و قونسلی ۱.۱.افغانستان در خارج**

وزارت امور خارجه به منظور ارائه خدمات بیشتر و بهتر به شهروندان کشور در خارج، تلاش نموده با اتخاذ سیاست اقناع‌سازی، نمایندگی‌های سیاسی و قونسلی افغانستان را فعال نماید.

محترم مولوی امیرخان متقی سرپرست وزارت خارجه امارت اسلامی افغانستان در نشست‌ها با نمایندگان خاص کشورها برای افغانستان، همواره روی مساله واگذاری نمایندگی‌های سیاسی و قونسلی به امارت اسلامی تاکید نموده است. این تلاش‌ها باعث دستیابی به موفقیت‌های چشمگیر در عرصه دیپلوماسی و اعزام دیپلومات‌های جدید به نمایندگی های سیاسی و قونسلی افغانستان در کشورهای منطقه گردیده است.

در این راستا وزارت امور خارجه به کشورهای پاکستان، ترکیه، قطر، عربستان سعودی، امارات متحده عربی، ایران، روسیه، چین، قزاقستان، قرغیزستان، ازبیکستان، ترکمنستان و مالیزیا دیپلومات جدید فرستاده است. قونسلگری افغانستان در خاروغ تاجیکستان نیز مطابق دستورالعمل های وزارت امور خارجه افغانستان فعالیت کرده و تابع تصمیات این وزارت می‌باشد. هرچند از سوی امارت اسلامی به بسیاری از کشورها تاکنون دیپلومات اعزام نشده است، اما نمایندگی‌های سیاسی و قونسلی مطابق با رهنمود و مقررات وزارت امور خارجه امارت اسلامی فعالیت می کنند.

این تلاش‌های دوساله اعتماد متقابل میان امارت اسلامی و کشورهای همسایه را فراهم نموده و دولت چین با معرفی سفیر در کابل امارت اسلامی را به طور صریح مورد شناسایی قرار داده است.

از طرف دیگر امارت اسلامی زمینه فعالیت نمایندگی‌های سیاسی و قونسلگری کشورهای دیگر در کابل و سایر شهرهای افغانستان را نیز فراهم نموده است. نمایندگی‌های دیپلوماتیک بسیاری از کشورها در افغانستان فعال بوده و با امارت اسلامی در تعامل می‌باشند.

قابل ذکر است؛ اکثر سفارتخانه‌های افغانستان با امارت اسلامی در ارتباط هستند و تعداد کمی از آن‌ها با وزارت خارجه رابطه ندارند.

# د ټرانزيټي لارو جوړول او د بهرنيو پانګونو جلبول مو ثبات او پرمختګ تضمينوي

سعيد غلجي*




د لويو سيندونو، حاصلخېزو ځمکو، شنو غرونو او قيمتي معدنونو تر څنګ؛ افغانستان ته الله تعالی ډېر با ارزښته او قيمتي موقعيت ورکړی، داسې موقعيت که سم کار ترې واخيستل شي او تر هر څه زياته ګټه له خپل موقعيته تر لاسه کولی شي. احمدشاه بابا (رحمه الله) چې موږ ته کومه سيمه د افغانستان په نوم را پرې ايښې، په هغې کې د هېڅ شي کمی نشته، سمندر ته هم لاره لرو او وچه کې هم له ګڼو هېوادونو سره نښتي يو، خو دا زموږ کمزوري ده، چې اوس زموږ نيمه ځمکه (پښتونخوا) زموږ له لاسه وتلې او په دې سره مو د سمندر لاره له لاسه ورکړې. مګر سربېره پر دې؛ زموږ اوسنی موقعيت بيا هم انتهايي قيمتي او ارزښتمن دی.

هو! زموږ د هېواد موقعيت د نړۍ په نقشه کې دومره زيات ستراتيژيک اهميت لري، که موږ ترې کار وانخيست، نور خلک يې د اشغالولو او کار اخيستلو هڅه کوي. يعنې يا به خپله موږ له خپل موقعيته سالمه استفاده کوو او يا به همدغه موقعيت زموږ لپاره اور جوړېږي.

له بده مرغه موږ تر اوسه نه يو توانېدلي، چې له خپل موقعيت او نورو خدای راکړو نعمتونو څخه سالمه استفاده وکړو، له همدې امله موږ هېڅوک ارام ته نه پرېږدي. په تېره شاوخوا يوه پېړۍ کې درې ځله پر موږ يرغلونه شوي او په دې وروستي ځل خو تقريباً د ټولې نړۍ راسره جګړه وه؛ ځکه چې ټول پياوړي هېوادونه هڅه کوي، چې خپل اهداف له دې خاورې تعقيب او تر لاسه کړي.له انګرېزانو څخه تر خپلواکۍ تر لاسه کولو وروسته موږ نسبتاً ښه روان وو؛ خو د پرمختګ سرعت مو بيخي کم و، آن دومره کمزوري وو، چې تقريباً په ٦٠ کلونو کې هم موږ ونه توانېدو چې خپل نظام مستحکم او هېواد مو له احتمالي خطراتو څخه په امن کړو. تر دې چې شورويانو په ډېره اسانۍ وکولی شول، چې خپل لاسپوڅي زموږ په نظام کې د ننه او پوځي کودتا ته زمينه برابره کړي او بيا خپله مستقيماً يرغل وکړي. بيا مو له ډېرو زياتو

* ليکوال او د خواله رسنيو فعال

تکالیفو او زیانونو وروسته له شورویانو څخه هم بیرته ازادي تر لاسه کړه، خو متأسفانه چې د آزادي غوښتونکو مجاهدینو ډلې متعددې وې او واحد قیادت یې نه درلود، نو له همدې امله د شوروي ځواکونو له ماتې وروسته په خپلو کې نه سره جوړېدل، خپلو کې سره ونښتل، هغه نادودې یې وکړې،چې خلک یې تر ننه ښکنځي او رټي، بالاخره له کندهاره امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله راپورته شو، د طالبانو تحریک یې جوړ او ورو، ورو یې پر ټول هېواد واکمني تر لاسه کړه، کراره کراري شوه، خو اسلامي امارت ته هم د نظام د استحکام او پرمختګ فرصت پاتې نه شو، ډېر ژر له غربه د صلیبي یرغلګرو یو لښکر راپورته شو او افغانستان یو ځل بیا اشغال شو. شل کاله له صلیبي یرغلګرو سره وجنګېدو او ایله مو هغوی هم مات او بیا مو آزادي تر لاسه کړه. اوس نو الله تعالی موږ ته یو بل فرصت راکړ؛ خو دا له موږ پورې اړه لري، چې له دغه فرصته څنګه او څومره استفاده کوو؟!

البته دغه ټولې جګړې او ناخوالې یوازې له همدې امله راپېښې شوې، چې موږ قوي او مستحکم نظام نه درلود او له خپل موقعیت څخه موسمه استفاده نه ده کړې؛ نو هغه خپل ښایست بېرته له موږ پورې اور شو او هر یرغلګر غوښتل چې دغه موقعیت په خپله ولکه کې راولي.

په هر صورت؛ اوس چې الله تعالی موږ ته یو بل فرصت راکړی، باید چې دا ځل یوه شیبه غفلت هم ونه کړو، له تېر تاریخ څخه پند واخلو، د شخصي ګټو پر ځای ملي ګټې وپالو او په خورا اخلاص او جدیت کار ته متې راونغاړو. موږ باید د کلونو کار په میاشتو او د میاشتو کار په اوونیو کې وکړو، ځکه موږ سره وخت بېخي کم او کار زیات دی، که مو په دغه لنډه موده کې ځان قوي نه کړ، خدای مه کړه؛ ښایي بیا له کومې بلې ناخوالې سره مخ شوو.

نو د دې لپاره چې هم له خپل موقعیته سمه ګټه واخلو او هم مو نظام قوي او خوندي پاتې شي، لازمه ده چې هم ټرانزیټي لارو او لویو سیمه ییزو پروژو ته پاملرنه وکړو او هم بهرنۍ پانګونه را جلب کړو.

**سیمه ییزې لارې او اقتصادي پیاوړتیا**

افغانستان د اسیایي هېوادونو لپاره د اتصال تر ټولو غوره نقطه ده او له همدې امله د اسیا زړه بلل کېږي؛ نو که چېرې موږ د سړکونو او اوسپنې پټلۍ د لیکو له لارې د سیمه ییز نښلون لپاره واقعي هڅې وکړو او د شاوخوا هېوادونو لپاره ترانزیټي لارې برابرې کړو؛ نو دا کار زموږ لپاره دوه عمده ګټې لري:

لومړۍ دا چې د دغو ترانزیټي لارو له درکه هم له نورو هېوادونو څخه د حق العبور پیسې تر لاسه کولی شو او هم به زموږ هېواد په یوه واقعي څلور لارې بدل شي؛ نو په دې توګه به زموږ صنعت او تجارت هم ښه پرمختګ وکړي.

دوهمه ګټه به یې دا شي، چې اوس مهال موږ په وچه کې راګیر یو، سمندر ته لاره نه لرو؛ نو له همدې امله موږ د نورو هېوادونو لارو ته اړ یو، هغوی سره مو که تعلقات ښه وو؛ نو لاره راکوي او که تعلقات مو ورسره ترینګلي وو یا مو د هغوی شرایط ونه منل؛ نو لارې رابانديې بندوي. مګر که چېرې موږ هم په خپل هېواد کې ترانزیټي لارې جوړې کړو، بیا دا ستونزه حلېږي، بیا به یوازې موږ هغوی ته نه، بلکې هغوی به هم موږ ته محتاج وي؛ ځکه د هغوی اقتصاد او تجارت به زموږ له ټرانزیټي لارو سره تړلی وي. بیا مو هېڅکله نه شي ځورولی، بلکې هغوی به زموږ تر رحم او کرم لاندې وي.

دغه راز؛ د لویو سیمه ییزو پروژو پلي کول (لکه: تاپي، کاسا زر او...) هم ورته ګټې لري او افغانستان د سیمې په یو مهم هېواد بدلوي.

**د بهرنۍ پانګونې راجلبول**

د بهرنۍ پانګونې را جلبول هم موږ ته ډېر مهم دي، آن تر دې چې بهرنیو پانګوالو ته باید د نورو نړۍ په نسبت زیات امتیازات ورکړو، سهولتونه ورته برابر کړو، امنیتي تضمین یې وکړو او له هرې خوا یې ښه ونازوو. ځکه موږ اوس په ابتدایي پړاو کې یو، چې په هر قېمت وي، باید خپل هېواد ته پانګه وال راجلب کړو. بالمقابل د پانګه والو لپاره هم افغانستان ډېر غوره ځای دی، ځکه دلته بشپړ امنیت تأمین دی او د پانګونې فرصتونه ډېر زیات دي، دلته ډول، ډول مواد شته، په مختلفو برخو کې




خلک پانګونه کولی شي. که دلته د صنعت په برخه کې پانګونه وشي؛ نو له ټولو ښه پېر او پلور هم دلته کېدای شي؛ ځکه افغانستان د یوې ځلور لارې مثال لري او د ډېرو هېوادونو ترمنځ د اتصال نقطه همدا افغانستان دی.د میرویس عزیزي په شان نور افغاني پانګه وال؛ خو باید په هر صورت را جلب کړو او پوره ناز یې واخلو؛ خو د بهرنیو پانګه والو راجلبول تر داخلي پانګوالو زیات مهم دي؛ ځکه موږ دومره زیات شتمن پانګوال نه لرو؛ خو که بهرني پانګوال مو راجلب کړل؛ نو بیا افغانستان تر دوبۍ زیات پرمختګ کولی شي.

البته؛ د شخصي پانګه والو تر څنګ باید د حکومتونو په کچه کار وشي، د سیمې او ګاونډ د پرمختللیو هېوادونو دولتي شرکتونه هم باید په افغانستان کې پانګونې ته وهڅوو؛ ځکه په سیاسي او امنیتي لحاظ تر شخصي پانګوالو د دولتي شرکتونو د پانګونې ګټه زیاته او کار یې پوخ دی.

د پانګوالو په راجلبولو سره زموږ په لکونو هېوادوالو ته په خپل هېواد کې د کار زمینه برابرېدلی شي، د دولت عواید ورسره زیاتېږي، نړیوال اعتماد تر لاسه کولی شو او د ځان بسیاینې کچه مو هم ورسره لوړېږي.

**د امنیت په برخه کې د ټرانزیټي لارو، لویو سیمه ییزو پروژو او بهرنیو پانګونو رول**

د ټرانزیټي لارو جوړول، د لویو سیمه ییزو پروژو پلي کول او د بهرنیو خصوصي او دولتي پانګه والو راجلبول موږ ته د اقتصادي ګټو تر څنګ؛ په امنیتي برخه کې هم مهم رول لري. هغه داسې چې که موږ نورې نړۍ ته ترانزیټي لارې برابرې کړو او د هغوی اقتصاد او تجارت زموږ له ترانزیټي لارو پورې وتړو، د سیمې په کچه لویې مشترکې پروژې پلي کړو او بهرني پانګوال راجلب کړو؛ نو هغوی به د خپلو اقتصادي ګټو په خاطر دلته امنیت او ثبات غواړي او چا ته به دا اجازه نه ورکوي، چې زموږ امنیت اخلال او بې ثباتي رامنځته کړي.

که موږ له دغو دوو لارو؛ له نورې نړۍ سره د اقتصادي ګټو پر اساس مشارکت پیدا کړ، نو حتماً به د اقتصادي پرمختګ تر څنګ؛ زموږ امنیت هم تر ډېره حده پیاوړی شي؛ ځکه د همدې اقتصادي شراکت پر اساس زموږ د هېواد د ثبات او د نظام د استحکام تضمین زیاتېږي.

# عهده دار شدن حکومت اسلامی
# یک مسئولیت عظیم و یک اداره معنوی است؛ نه یک منصب دنیوی

صابر پویا*

حکومت اسلامی، حکومت نژادی و منطقه ای نیست، بلکه بنیانش بر اندیشه و عقیده است و همه تفاوت های نژادی، جغرافیایی و زبانی در سایه آن رنگ می بازند و ذوب می شوند.

نظام سیاسی اسلام عبارت است از مجموعه تعلیمات، دستورها، قوانین و تشکیلاتی که برای اداره کشور اسلامی تعیین شده است، زیرا اسلام در تعلیمات خویش تنها به عبادت و اخلاق اکتفا نکرده است، بلکه برای تدبیر امور جامعه و اداره کشور اسلامی نظام سیاسی را ارایه کرده است.

## 1- نظام سیاسی از نظر فقه اسلامی

از نظر فقه سیاسی اسلام، نظام سیاسی اسلام یک مودل جامد نیست بلکه بر طبق اوضاع و مصلحت های دینی و دنیوی مسلمین می تواند اشکال مختلف داشته باشد ولی قوانین شرعی اجتماعی برای انواع حکومت اسلامی یکسان است.

## 2- ویژگی های نظام سیاسی اسلام

الف- الهی بودن: یعنی نظام سیاسی اسلام نماینده و نمایشگر اراده و حاکمیت خدا در زمین است، قانون مدون الهی می باشد و با تمام خواص و ارکان آن از طرف خداوند آمده است.

ب- کامل بودن: نظام سیاسی اسلام یک نظام کامل است و از نقص خالی می باشد، و یک برنامه کامل زندگی سیاسی برای انسان ها است و در کامل بودن خود بی نیاز می باشد.

ج: جامع بودن: نظام سیاسی اسلام یک نظام جامع است که تمام ابعاد این نظام را در بر می گیرد و برای همه مسایل حیاتی خود اعم از مسایل سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، اخلاقی، وغیره احکام و قوانینی دارد.

د: معقول و منطقی بودن: زیرا همه تشکیلات و مسئولیت های نظام سیاسی اسلام استدلالی و قابل توجیه است و هر مسئله از مسایل آن برای خود فلسفه و حکمت هایی دارد، و در عین حال با عقل و منطق بشری مطابقت دارد و واقعیت ها را در نظر می گیرد و در راه خیالات و وهمیات گامی بر نمی دارد.

نظام سیاسی اسلام از لحاظ هویت یک نظام جدا و مستقل بوده ولی در بعضی جنبه هایش با برخی از نظام های سیاسی معاصر، توافق مشروط دارد.

## تعریف حکومت اسلامی

حکومت اسلامی عبارت است از: سازمان عالی در کشور که بر اساس قانون اسلامی برای تدبیر امور اجتماع فعالیت می کند و به دفاع از کشور اسلامی بپردازد و جامعه را به سوی رفاه مادی و سعادت معنوی سوق دهد و تلاش دارد تا هدف های خود را تحقق بخشد، همچنان عمدتاً رئوس ارکان آن مسلمان و دارای اوصاف بخصوص بوده به طریقه شرعی انتخاب و نصب شده باشند.

## ویژگی های حکومت اسلامی

**1- جهانی بودن:** چون رسالت اسلام رسالتی عام و جهانی است، حکومت آن هم فراگیر و جهانی خواهد بود و حکومت اسلامی، حکومت نژادی و منطقه ای نیست، بلکه بنیانش بر اندیشه و عقیده است و همه تفاوت های نژادی، جغرافیایی و زبانی در سایه آن رنگ می بازند و ذوب می شوند.

بناءً علمای فقه سیاسی اسلام به این باورند که حکومت اسلامی برای اداره امورش مهم نیست که چه شکل و روشی را برای خود انتخاب کند و اسم و عنوان آن هم اهمیت چندانی ندارد. هر چند دو عنوان "امانت" و "خلافت" عنوان های تاریخی بوده و مفاهیم ارزشمند را در بر دارد، بلکه مهم تطبیق قوانین شریعت است.

* نویسنده و محقق


+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

**2- نظام تک حکومتی:** حکومت اسلامی در اصل و اساس آن یک نظام وحدتی و تک حکومتی می باشد، نه نظام اتحادی و وفاقی و به سیستم کانفدراسیون، زیرا نظام کانفدراسیون و فدرالی متشکل از دولت های مستقلی می باشد که صرفاً به نفع مرکز محدودیت هایی را در صلاحیت خود می پذیرد.

**3- حکومت متمرکز:** در نظام اسلامی حکومت متمرکز به این معنی است که در حکومت اسلامی رئیس حکومت اسلامی مرجع اعلای باصلاحیت می باشد و حق دارد تا تمام شئون کشور اسلامی خویش را از مرکز اداره کند و نظارت بر ولایات را نیز بکند.

**4- شرعی بودن:** در حدیث متفق علیه آمده است. "برمسلمان واجب است تا از امر آمر اطاعت کند."

اما حضرت ابوبکر صدیق می فرماید:"تا زمانی که خداوند را فرمانبرداری نمودم، ازمن پیروی کنید و هرگاه او را نافرمانی نمودم، هیچ لازم نیست از من پیروی کنید."

## تشکیل اولین حکومت اسلامی در زمین

بعد از اینکه پیامبر اکرم ص به مدینه منوره هجرت کرد و به اصحاب خود نیز دستور هجرت داد، پس از استقرار در مدینه و بنای مسجد در آنجا، پیمان میان مهاجرین و انصار منعقد ساخت و یهود را در آن وارد نکرد ولی با آن ها نیز پیمان امضا کرد که می توانند بر دین خود باقی بمانند و جان و اموال شان مصئون باشد و شرایط را برای آنان معین کرد.

## فراهم آمدن عناصر حکومت در اولین حکومت اسلامی

حکومت در اصطلاح سیاست امروزی عبارت است از: مجموعه ای از افراد سازماندهی شده که صاحب فرمانروا و قلمرو معین بوده و از شخصیت حقوقی برخوردار باشد.

## عناصر

1- اجتماع گروهی از مردم؛

2- پذیرفتن یک نظام خاص؛

3- سکونت در محدوده جغرافیایی معین؛

4- داشتن فرمانروا؛

5- دارا بودن شخصیت حقوقی.

## وظیفه حکومت اسلامی

عهده دار شدن حکومت اسلامی، یک مسئولیت عظیم و یک اداره معنوی است؛ نه یک منصب دنیوی. عهده دار شدن زمامداری امور مسلمین، در حقیقت، به دوش کشیدن یک بار سنگین امانت الهی می باشد.

تطبیق شریعت الهی بر جامعه، دفاع از اندیشه، جان، مال، آبرو و شخصیت مسلمین به سطح افراد و جامعه، دفاع از تمامیت ارضی، استقلالیت، قلمرو و مرزهای کشور اسلامی، مبارزه با ظلم و بیداد و پخش عدالت اجتماعی، تامین خدمات عامه در ساحات صحی، مالی، تعلیمی و غیر این ها، دعوت به اسلام، نشر و تبلیغ دین اسلام، دفاع از مسلمانان محکوم و مستضعفین جهان، تأمین نیازمندی های اساسی جامعه، راه را برای رشد استعدادها هموار کردن و زمینه را برای ترقی اجتماعی و اقتصادی مساعد ساختن، از وظایف اساسی یک نظام و یا حکومت اسلامی است.

هر چند در نظام های به نام اسلامی گذشته این همه موارد ارزشمند که در بالا تذکر رفت، نزد مقامات عالیه دولت متاسفانه فقط در قالب شعار باقی مانده بود و بس؛ اما ملت آگاه و بیدار افغانستان می دانستند که مورد سلطه کشورهای ملحد قرار گرفته اند که می خواهند عقاید و مفکوره های مبتذل شان را بر این ملت تحمیل کنند، ولی سلطه گران ندانسته اند و کور خوانده بودند؛ این ملت هرگز فریب توطئه گران را نخورده اند و عقاید و ایمان این ملت خدشه ناپذیر است. امروز که خوشبختانه شاهد یک نظام کاملاً اسلامی در کشور هستیم و از پایین ترین فرد جامعه تا اعلاترین مسئول نظام آراسته به ایمان کامل و تعهد راسخ می باشد؛ بیایید دست به دست هم دهیم و چنان یک وحدت ملی و اجماع نظر را رقم زنیم که دشمنان این ملت و این مرزوبوم ناامید از هر نوع تلاش برای ایجاد تفرقه و شایعه پراگنی شوند. همانگونه که با تلاش و استقامت صبورانه مجاهدین شاهد آزادی کشور از دست اجنبی ها بودیم، با تلاش های مداوم و همدیگر پذیری نیز انشاءالله شاهد یک کشور خودکفا و مرفه خواهیم بود.

دویمه برخه

# اسلام نړۍ ته څه وړاندې کړل؟!

مفتي نورالله عزام*

## د پوهې عموميت

تر اسلام دمخه به پوهانو له عامو خلکو څخه بېل ژوند کاوه، د دوی ترمنځ ستر واټن و، په فارس، روم او یونان کې به پوهان له خلکو جلا اوسېدل، دوی به په خپلو کې مناظرې او مناقشې کولې او علم به د دوی ترمنځ په تواږث سره پاتې کېده، بل پلو ته به عام خلک په جهل کې پراته وو او د پوهې له هر ډول تصور څخه به لرې ساتل کېدل؛ خو اسلام بیا نړۍ ته بیخي بل ډول تصور وړاندې کړ! رسول الله -صلی الله علیه وسلم- په یوه جمله کې نړۍ ته د دوی برعکس بل ډول عادلانه نظریه وړاندې کړه، هغه دا چې: ((طلب العلم فريضة على كل مسلم)) علم ترلاسه کول یې پرته له کوم توپیره پر هر نر او ښځه باندې فرض کړ، د دې لپاره چې د علم زده کړه دیني وجیبه او پر ټولو یوه عمومي فریضه وګرځي، ترڅو ټول انسانان نارینه وي او که ښځینه له کومې استثنی پرته علم ترلاسه کړي. د همدې علمي تګلارې د عملي تطبیق اقدام رسول الله -صلی الله علیه وسلم- هغه مهال وکړ چې د بدر په جګړه کې یې د مشرکانو اویا تنه بندیان کړل او دا پرېکړه یې وکړه چې هر بندي به د مدینې منورې لس تنو ته لیک لوست ور زده کوي او بیا به د دې په بدل کې ازادېږي، هغه مهال دا لومړنۍ تمدني نظریه وه، چې په نړۍ کې یې چا فکر هم نشو کولی، او په همدې سره اسلام د خپلو لارویانو لپاره په ژوند کې د علم قضیه یوه اساسي او عمومي قضیه وګرځوله او لارښوونه یې وکړه چې د علماوو درجه تر ټولو لوړه ده، رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمايي: ((من سلک طريقا يطلب فيه علما سلک الله به طريقا من طرق الجنة، وان الملائکة لتضع اجنحتها رضا لطالب العلم)).

ژباړه: چا چې د علم ترلاسه کولو لپاره یوه لار غوره کړه الله تعالی به د جنت لاره ورته وښيي او بې شکه ملائکې به هورمرو د طالب العلم د خوښې لپاره خپلې وزرې دوی ته غوړوي.

دغه علمي عمومي خوځښت د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- تر وفات وروسته هم په ښه پرمختګ سره دوام درلود، چې وروسته یې په زړه پورې اثرات پر ټوله نړۍ را ښکاره شول او دا هرڅه اروپایانو ته یو خوب و.

دلته د اسلامي علومو د پرمختګ او هغه څۀ چې اسلامي تمدن یې بنسټ ایښی یوازې درې نمونې درته وړاندې کوو:

### لومړی: عامه کتابتونونه

د اسلام له لومړيتوبونو او هڅونو څخه ګڼل کېږي چې په همدې اساس مسلمانانو د عامو خلکو لپاره ستر او پراخه کتابتونونه جوړ کړل، چې هر چا کولی شول په دې کتابتونو کې وړیا مطالعې وکړي او د بېلابېلو علومو له پوهې څخه برخمن شي، بلکې مسلمانو چارواکو به د مختلفو وطنونو خلک کتابتونو ته را مېلمانه کول او پر دې به یې ځانګړې سرمایه مصرفوله، او علماوو به په دې تړاو له یو بل سره سالم رقابتونه کول او د اسلامي نړۍ په هر ښار کې به ستر کتابتونونه موندل کېدل، چې د دغو ښارونو کتابتونونه ډېر مشهور وو: بغداد، قرطبه، اشبیلیه، قاهره، القدس، دمشق، طرابلس، مدینه منوره، صنعاء، فاس، او قیروان...

### دویم: د علم ستر مجلسونه

له اسلام څخه مخکې عامو خلکو په علمي مجلسونو کې ګډون نشو کولی؛ خو د اسلام تر راتلو وروسته د علمي مجلسونو دروازې د هر چا پر مخ پرانیستل شوې، او د اسلامي نړۍ په هره برخه کې علمي حلقې پیل شوې، کله کله؛ خو به په ځینو مجلسونو کې بې شمېره انسانانو ګډون کوو مثلا د ابن الجوزي رحمه الله په علمي مجلس کې به په یو وخت کې تر یو لک زیاتو انسانانو ګډون کاوه، چې ټول به عام مسلمانان وو، دغه راز د امام ابوحنیفه، امام حسن بصري، امام احمد، امام شافعي او امام مالک رحمهم الله په مجلسونو کې به هم ګڼ شمېر عام او خاص مسلمانانو ګډون کاوه، په اسلامي ښارونو کې به په یو وخت کې په یوه جومات کې د علم مختلفې حلقې وې، په یوه برخه کې به د تفسیر درس، بله برخه کې د فقهې، په بله برخه کې د حدیثو، بله به د عقیدې، بله د طب حلقې وې او داسې نورې...دغه شعار د مسلمانانو اولادونه؛ نه یوازې دېته وهڅول چې مدرسې جوړې کړي، بلکې د طالبانو د روزنې لپاره به یې بې شمېره پیسې مصرفولې، مدرسې، جوماتونه او کتابتونونه به یې جوړول، په علم باندې دغه لګښت یوازې د علماوو لپاره نه بلکې د

* د بهرنیو چارو وزارت
د ډیپلوماسۍ انسټیټیوټ رییس

تجارانو له پاره هم د خیر ذریعه وګرځېدله چې له همدې لارې په اسلامي نړۍ کې ستر ستر علماء را پیدا شول.

## د مسلمانانو تجربوي تګلاره

په نړۍ کې علمي تجربوي منهج د علومو په پرمختګ کې د مسلمانانو یو ستر ابتکار ګڼل کیږي، دغه تګلاره په کامله معنی له یوناني، هندي او نورو پخوانیو فلسفو جلا ده، دغه تمدنونو په زیاتره علومو کې یوازې پر فرضي نظریاتو بسنه کوله، پرته له دې چې په عملي ډګر کې یې ثابت کړي، د دوی زیاتره نظریات فرضي او خیالي وو که څه هم کله به سهي ثابت شول، په نتیجه کې به سهي او باطلې نظریې سره ګډې شوې، تر دې چې مسلمانان راغلل او تجربوي ابتکارونه یې وکړل، د تجربوي علمي منهج لپاره یې قواعد وضع کړل، چې نوي ساینسي علوم تر اوسه د دوی پر قدم روان دي. مسلمانانو خپل تجربوي منهج په پخوانیو نظریاتو هم تطبیق کړ - د هر چا نظریات چې وو - په نتیجه کې یې د پخوانیو فیلسوفانو ډېرې هغه نیمګړتیاوې هم کشف کړې چې پوهانو به له څو پېړیو راهیسې بدرګه کولې او مسلمانو علماوو به یوازې دا نه، چې پر نظریاتو نقد کاوه، بلکې دوی به دغه نظریات نوي خبرې فرض کړې بیا به هره نظریه و ازمویله تردې چې بالاخره به هغه یو حقیقت وګرځېده، په همدې توګه دوی په بېلابېلو علومو کې ګڼ شمېر کامیابې تجربې ترسره کړې. د اسلامي نړۍ له علماوو څخه چې په عملي تجربوي تګلاره کې یې ډېر لاس درلود، جابر بن حیان، الخوارزمي، امام رازي ، الحسن بن الهیثم او ابن النفیس ډېر مشهور دي.

جابر بن حیان د کیمیا شیخ و، نوموړی وایي: د کیمیا په ایجاد او تجربو کې اصل شی عمل دی، څوک چې عمل او تجربه ونه کړي په هېڅ شي کې نشي کامیابېدلی. نوموړی په خپل کتاب الخواص الکبیر کې وایي: موږ په دې کتابونو کې داسې څه نه دي راوړي چې یوازې اورېدلي او یا چا راته ویلي او لوستلي دي بلکې هغه څه مو راوړي چې موږ پخپله امتحان کړي او تجربه کړي دي، کوم چې سهي ختلي هغه مو راوړي او چې غلط ثابت شوي هغه مو رد کړي دي او څه چې موږ کشف کړي هغه مو د خلکو له احوالو سره هم مقایسه کړي. په همدې اساس جابر بن حیان هغه څوک دی چې په لومړي ځل یې علمي تجربه د علمي بحث په تګلاره کې شامله کړه، چې د بحث اساسي قواعد شمېرل کیږي، نوموړي به کله ناکله تجربې ته تدریب هم ویل، هغه به ویل: څوک چې مدرب وي هغه به ربښتینی عالِم وي او څوک چې مدرب نه وي هغه عالِم نشي کېدلی.

قدري طوقان په خپل کتاب (مقام العقل عند العرب) کې وایي: جابر بن حیان له نورو پوهانو له دې امله مخکې دی چې دی هغه لومړنی شخصیت دی، چې په علمي اساس یې تجربې کولې، او پر همدې اساس اوسنی نړۍ علمي سیر کوي، په معلوماتو او تجربو کې ورڅخه ګټه اخلي او په عملي ډګر کې یې تطبیقوي. نوموړي به تجربې ډېرې مهمې ګڼلې او په پوره دقت سره به یې خلک ورته رابلل او دغه راز به یې خلکو ته د ښهٔ سوچ او عدم عجلت لارښوونه کوله او ویل به یې چې په کیمیا کې لازمه داده؛ چې تجربه او عمل وشي او له دې پرته په بل شي علم نه ترلاسه کیږي. دغه راز امام رازي رحمه الله هم په نړۍ کې هغه لومړنی عالِم دی چې په طب کې یې علمي تجربوي تګلاره وکاروله، آن کله به یې پر حیواناتو په ځانګړې توګه پر بیزو هم تجربې کولې، ترڅو د انسان درملنې لپاره ګټوره تګلاره پیدا کړي، او هغه مهال په نړۍ کې چا دغه تجربې نه پېژندلې.

د همدې تجربوي تګلارې پر اساس ابن الهیثم په خپلو کتابونو کې د اقلیدوس او بطلیموس پر نظریاتو پرېمانه نیوکې کړې او د هغوی زیاتره نظریات یې له عملي تجربوي تګلارې سره په ټکر ثابتې کړې، سره له دې چې هغوی هم د نړۍ ستر پوهان شمېرل کیږي، ابن الهیثم په نړۍ کې لومړنی هغه څوک شمېرل کیږي، چې د عصري علومو لپاره یې تجربوي علمي کړنلاره وړاندې کړه داسې کړنلاره چې اوسنۍ نړۍ ورڅخه ګټه پورته کوي، په همدې توګه مسلمانانو نړۍ ته علمي تجربوي تګلاره وړاندې کړه او بشریت ته یې دا وښودله چې انسان څهٔ ډول په ورتیا او دقت سره علمي تحقیقاتو ته رسېدلی شي، پرته له دې چې په اوهامو، ګومانونو او خواهشاتو پسې ولاړ شي.



## د مسلمانانو عملي کړنلاره

د علومو عملي کړنلاره هغه نوې تګلاره ده، چې د مسلمانانو په تمدن کې رامنځته شوې ده، په ځانګړې توګه هغه مهال چې اسلامي تمدن له یوناني تمدن سره مقارنه کړل شو. تر اسلام د مخه به پوهانو بېلابېل نظریات وړاندې کول چې کله کله به یې ښهٔ نظریات هم وړاندې کړل خو دا نظریات به یوازې په کتابونو او پاڼو کې خوندي وو، په عملي ډګر کې نه وو تطبیق شوي او دا هغه څهٔ دي چې موږ ورته عملي اړخ وایو چې د انسانانو د ګټې په خاطر عملي کیږي؛ خوکله چې په نړۍ کې مسلمانان حاکم شول دوی وکولی شول چې هرې نظریې ته داسې عملي جامه ور واغوندي، چې انسانانو ته ترې عملي ګټه ورسیږي.
په دې ډګر کې د اسلامي نړۍ سلګونه علماوو کار وکړ، چې د موسی بن شاکر اولادونه یې په مثال کې راوړو، هغوی په عملي توګه داسې وسائل او الات جوړ کړل چې د غرونو سرو ته به یې اوبه هم پورته کولې، دغه راز یې دقیق ساعتونه هم جوړ کړل...

دوی د پخوانیو نظریاتو ترڅنګ د نویو نظریاتو څخه هم ګټه واخیستله چې په پایله کې نه یوازې اسلامي ټولنې بلکې ټولو انسانانو ته ګټور ثابت شول، پرځای د دې چې انسان یوازې فکر وکړي دوی عملي کار ته هم وهڅول. دغه راز ابوالقاسم الزهراوي په طب کې د جراحي ګڼ شمېر الات جوړ کړل، مثلا هغه ویل چې کله درمل له وینې سره ګډ شي؛ نو د انسان په بدن کې په سرعت سره جریان کوي او د ناروغې په وړاندې زر اثر کوي، نوموړي د همدې لپاره په لومړي ځل پیچکاري اختراع کړه او په عمل کې یې درمل وینې ته ورسول او دی لومړنی هغه ډاکټر دی، چې شریانونه یې سره وتړل او د وینې تویېدو مخه یې ونیوله.
ابن البیطار اتیا ډوله نویو درمل جوړ او په طب کې یې شامل کړل. دغه راز جابر بن حیان په لومړي ځل ځینې کیمیاوي معادلې سره یو ځای کړې او داسې چینی یې هم جوړه کړه، چې د باران اوبو به پرې اثر نه کاوه، او داسې پاڼې یې اختراع کړې چې اور نه شوې سوځولی او معلومات به پکې لیږدول کېدل.
پر دې بر سېره د اسلامي تمدن زرګونو علماوو داسې نظریات وړاندې کړل چې په واقعي ژوند کې په عملي بڼه ګټه ورڅخه واخیستل شوه، تر دې دمخه د یونان فیلسوفانو نړۍ ته ګڼ شمېر نظریات وړاندې کړل خو په واقعي ژوند کې ډېره کمه ګټه ورڅخه واخیستل شوه.

Storai
New phase - 3rd and 4th issue -1445-2023

# افغانستان د اوسپنې پټلۍ

راټولوونکی: عبدالرشید ساپی*




## پیلامه

د اوسپنې پټلۍ، قوش تیپې کانال، کاسا زر، تاپي، ټاپ او ورته نورې پروژې هغه څه دي، چې د افغانستان دوامداره اقتصاد، تلپاتې امنیت او اغېزناکې ډیپلوماسۍ ته لاره هواره وي او هم د افغانستان څه باندې څلوېښت کلنې کشالې لپاره حل ګڼل کېږي زما په اند د افغانستان اسلامي امارت دغه هر څه درک کړي او د سرته رسولو لپاره یې کلک هوډ او ټینګه اراده لري، چې په دې لیکنه کې یې یواځې له اوسپنې پټلۍ څخه یادونه کېږي.

## د اوسپنې پټلۍ شالید

د 1940 کال په وروستیو کې، د نړیوالو اوسپنو پټلیو له لارې د مسافرینو او توکو د لیږد رالیږد لپاره، د قانوني اقتصادي معیارونو د جوړولو بېړنۍ اړتیا پیدا شوه؛ نو د سیمه ییزو اوسپنو د پټلیو ترمنځ د همکارۍ سازمان (OSJD) د جوړښت لپاره ځینې کارونه تر سره شول. د دې سازمان د بنسټ ایښودنې لومړني اسناد د 1951 کال په ترڅ کې طرح او تائید شول، چې د 1951 کال د نومبر په لومړۍ نېټه یې د پلي کولو چارې پیل شوې.

* د ویاند دفتر د نشراتو ډسک مسوول



+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

څو کاله وروسته؛ په ټرونونو کې ژور بدلونونه رامنځته شو او د اوسپنې پټلۍ په وسیله د نړیوالو مسافرو د ټرانسپورټ تړون (SMPS) او د اوسپنې پټلۍ په وسیله د توکو د ټرانسپورټ تړون (SMGS) نومونه ورته ورکړل شول. د تړون د برخوالو اړخونو شمېر هم زیاتېدو، د اوسپنې پټلیو د کمپنیو ترمنځ همکاري هم پراخېده ، د مسافرو شمېر هم مخ په زیاتېدو و او د موادو د لېږد رالېږد کچه هم د پام وړ زیاتېده.

ګڼ شمېر هېوادونو چې د اروپا او اسیا ترمنځ په ټرانسپورټي لېږد رالېږد کې یې ونډه درلوده، بېلا بېل ملي قوانین درلودل. د OSJD لخوا بشپړ او منل شویو قانوني نورمونو او اسنادو د دغو بېلابېلو ملي قوانینو ترمنځ د همغږۍ او یو شانته کېدو لپاره زمینه جوړه کړه. OS-JD د اسیا او اروپا ترمنځ د کانټینرونو لېږد رالېږد په ګډون، د اوسپنې پټلۍ د سیالۍ د وړتیا او اغېزمنتوب او د اوسپنې پټلۍ د ټرافیک پرمختګ لپاره فعالیتونه پیل کړل.

OSJD د اوسپنې پټلیو د ټرانسپورټ په ډګر کې، د ډېرو نړیوالو سازمانونو سره همکاري کوي، لکه د اروپا د کمیسیون د UNECE, UNESCAP, DG MOVE او OTIF, CIT, EAEC, UIC, ERA, FI ATA, FTE CCTT, UITP, او داسې نورو سره.

د (OSJD) د غړیتوب لپاره د افغانستان د اوسپنې پټلۍ اداره (ARA) غوښتنلیک د 2014 کال د جون دمیاشتې په 6 مه نېټه تائید او ومنل شو، اوس مهال دغه سازمان د افغانستان په ګډون، 28 غړي لري.

## افغانستان اوس مهال څومره اوسپنې پټلۍ لري؟!

افغانستان اوس مهال په ټول هېواد کې په ټولیېزه توګه 288 کیلومتره اوسپنې پټلۍ لري، چې یاده اندازه د افغانستان په درې ولایتونو کې شتون لري.



**1.بلخ ولایت؛** دغه ولایت کې اوس مهال 106 کیلو متره پټلۍ شته، چې 31 کیلو متره یې فرعي او 75-کیلو-متره یې اصلي لیکې دي. دغه پټلۍ د ازبکستان او افغانستان د صفري نقطې(دوستي پل) څخه پیل او د مزار شریف ښار د هوایي ډګر(port 5) پورې غزېدلې ده.

**2. هرات ولایت؛** دغه ولایت کې اوسمهال په دوه مسیرونو کې ټولټال 75-کیلو-متره پټلۍ شته، چې لومړی مسیر د خواف – هرات 3مه ټوټه د 62 روزنګ سټیشن څخه پیل او د ایران هېواد له شمتیغ سره وصل ده او بیا تر خواف پورې رسیږي او دوهم مسیر یې د تور-غونډۍ بندر سرحدي پټلۍ ده، چې 13-کیلو-متره ده او هېواد له ترکمنستان سره وصلوي.

**3. فارياب ولایت؛** دغه ولایت کې اوسمهال 47-کیلو-متره پټلۍ شتون لري، چې د ترکمنستان او افغانستان د سرحد څخه پیل او د فارياب ولایت تر اندخوی سټیشن پورې امتداد لري.

## د اوسپنې پټلۍ له لارې د افغانستان شته عواید

په تېر نظام (جمهوریت) کې شته مالي فساد، د قدرت جزیرې، مافیا او زورواکي هغه څه وو، چې د دولت عواید یې په سمه توګه نه راټولېدل او د دولت د خزانې پرځای اکثره شخصي جیبونو ته تلل؛ خو د اسلامي امارت تر بیاځلي واکمنېدو ورسته د الله ج په لورینه د فساد کچه صفر ته راټیټه شوه، بیت المال ولکه شوي عواید د شخصي جیبونو پرځای د دولت خزانې ته راستانه شو او دا دلایل د دې لامل شو، چې د اوسپنې



پټلۍ اداري په عواید کې د پام وړ ډېر والی راشي.د اوسپنې پټلۍ د اداري په وینا د دوی عواید د تېر په پرتله 22 سلنه زیات شوي او د ماليې وزارت له لوري ټاکل شوي هدف په پرتله 27.5 سلنه زیات عواید یې راټول کړي او بیت المال ته یې سپارلي دي.

## د اوسپنې پټلۍ په برخه کې هڅې او پرمختګونه

په دې کې شک نشته؛ چې د افغانستان اسلامي امارت په راتلو سره د اسلامي امارت مشرانو هڅې بې مخینې وې، په ناڅاپي ډول د تېر - رژیم سقوط، د پخوانیو لوړ پوړو چارواکو تېښته، د افغانستان سره د سیمې او نړۍ اړیکې پرېکېدل او د ګاونډیانو شوم اهداف هغه څه وو؛ چې له دې حالاتو څخه روغ وتل او په وړاندې یې سم تدبیر اسانه نه وو؛ خو الحمدلله د افغانستان اسلامي امارت فعاله ډیپلوماسي او نه ستړې کېدونکې هڅې هغه څه وې، چې ویې کولای شو د یادو حالاتو مقابله وکړي او په ډېر تدبیر سره پر مخ ولاړ شي.سیمې او نړۍ ته قناعت ورکړي او نړۍ سره د متوازن او اقتصاد محوره سیاست په رڼا کې د تعامل غږ پرانیزي، چې په یاده برخه کې د ا.ا.ا د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي امیر خان متقي هڅې د ستاېلو وړ دي.

## الف) د افغان ټرانس پروژې چارې پیلول

د افغان ټرانس پروژه چې د سیمې هېوادونو مشترکه پروژه ده، چې د افغانستان له خاورې د مرکزي اسیا هېوادونه له جنوبي اسیا له هېوادونو سره وصلوي، د اوسپنې پټلۍ اداري په ځانګړې پاملرنه د سیمې هېوادونو سره په بشپړه همغږۍ د دغه پروژې لومړنۍ چارې پیل شوې. د 1401 ه ل کال د زمرې د میاشتې په 5 مه د افغانستان، ازبکستان او پاکستان هېوادونو د تخنیکي ټیمونو له لوري د دې پروژې لومړۍ سروې پیل او د همدې میاشتې په 19 مه په بشپړ بریالیتوب سر پای ته ورسېده.

## ب) له ازبکستان هیواد څخه د فارغ شوي مسلکي محصلینو ګمارنه

له هغه 25 تنو محصلینو له ډلي څخه، چي د اوسپني پټلی په برخه کي د زده کړو په موخه ازبکستان هیواد ته استول شوي وو، هغه 17 تنه چي کار کولو ته چمتو او هیواد ته راستانه شول، د دي اداري اړوند په تخنیکي او مسلکي بستونو وګمارل شول او اوسمهال د خپلي تعلیمي رشتي سره سم خپل ګران هیواد ته خدمت کوي.

## ج) ترکمنستان او ایران هیوادونو ته د اوسپني پټلی په برخه کي د زده کړو لپاره د کارکوونکو لیږل

د هغه هوډ پر بنسټ چي د افغانستان اسلامي امارت رهبري یي د هیواد د هر اړخیزي ځان بسني په برخه کي لري، چي یو له هغي لومړیتوبونو څخه یي د اوسپني پټلی ده. د افغانستان اسلامي امارت رهبري هڅه کوي، چي د اوسپني پټلی ټولي چاري د افغان کدرونو له لوري مخ ته یوړل شي، یاد تعهد ته په کتو د اوسپني پټلی اداري په وینا 13 تنه کاروکوونکي یي ترکمنستان او 26 تنه کارکوونکي یي ایران هیواد ته د تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره لیږدولي دي، چي له راګرځېدو څخه وروسته به د دوی له تجربو، هنر او مسلک څخه د هیواد د اوسپني پټلی په برخه کي کار اخیستل کیږي.

## د ډیجیټل حکومتولي اړوند پرمختګ

د دي اداري په وینا یاده اداره توانېدلي، چي په تېر یوه کال کي خپل ولایتي ریاستونه او بندرونه د امنیتي کامرو تر پوښښ لاندي راولي او له مرکز څخه ورته لاسرسی ولري. د اوسپني پټلی د عوایدو راټولونه د نړیوالو سېستمونو لکه ACYCODA, CBS, RMIS سره سم عیار او له همدي لاري راټول کړي.

همدار راز یاده اداره توانېدلي چي د رسمي اسنادو او احکامو د تعقیب او د کارونو د چټکتیا لپاره کمپیوټري سیستم چمتو کړي، چي پر مټ یي اوس په لږ وخت کي په خوندي توګه تر ولایتونو رسیږي او تر لاسه کیږي.

## پایله

افغانستان پر ځان بسیه کولو کي د شته حکومت له لوري د لویو او بنسټیزو پروژو په کار اچول او لومړیتوب بي مخینې دی او د ګران هیواد د پرمختګ روڼ سباوون ګڼل کیږي.

یو سوکاله او په ځان بسیا افغانستان نه یواځې د افغانانو په ګټه دی؛ بلکي زمونږ له ګاونډیانو څخه نیولي د سیمي او نړۍ د هېوادنو په ګټه هم دی؛ نو ځکه نړۍ باید په دې اړه خپل مسئولیت اداء کړي او د ناغېږۍ پرځای دي د افغانستان د شته حکومت سره د تعامل میدان ته راوړاندي شي.

### سرچینه

د ا.ا.ا د اوسپني پټلی اداري ویبپاڼه، د یادي اداري د ۱۴۰۱ کال فعالیتونو او لاسته راوړنو بروشر او ملت ته، د حساب ورکوني رسنیز کنفرانس(۲۱/۱/۱۴۰۲)



Storai
New phase - 3rd and 4th issue -1445-2023

# بررسی چگونگی اصل صلاحیت جهانی در محکمه جزای بین المللی

پوهنیار نقیب الله زاهد*

**مقدمه**

در سال های اخیر با وقوع مکرر جنگ و مخاصمات مسلحانه بین المللی و غیربین المللی و قربانی شدن میلیون ها نفر زن،مرد، خردسال و کهن سال و گرفتاری آن ها در گرداب اضطراب و ناامنی ایده مقابله با چنین رفتارهای وحشیانه و بی رحمانه تقویت شده تا آنجا که به موجب اساسنامه دیوان محکمه جزائی بین المللی فجیع ترین جنایاتی که موجب تشویش جامعه بین المللی می شود، نباید بدون مجازات بماند و تعقیب مؤثر مرتکبین آن جنایات باید با اتخاذ تدابیری در سطح ملی و نیز تقویت همکاری بین المللی تضمین گردد. جنایات علیه بشریت، جنایات جنگی و تجاوز به عنوان مهم ترین جرایم بین المللی، مشمول صلاحیت محکمه جزائی بین المللی که اساسنامه آن از 2002 قوت اجرایی یافت و اینك 108 دولت به عضویت آن درآمده اند، قرار گرفته است. در برخی اسناد بین المللی اعمال صلاحیت جهانی از سوی دولت های عضو جنبه تعهد دارد و همه دولت ها متعهد به رسیدگی بودند مانند آنچه که در کنوانسیون منع شکنجه و ژنو درباره جرایم جنگی وجود دارد. امروزه عرف و معاهدات بین المللی صلاحیت را برای برخی جرایم مهم مانند جرایم جنگی، تجاوز، جرایم علیه بشریت، نسل کشی، شکنجه، برده گیری، تبعیض نژادی، دزدی دریایی، اقدامات ضد امنیتی در هواپیما، گروگانگیری و قاچاق مواد مخدر قابل اعمال می داند.

## الف- تعریف صلاحیت جهانی

اصل صلاحیت جهانی نشان دهنده وجه مشترک جامعه جهانی در اعلام انزجار (بیزاری و نفرت) از برخی اعمال است که در گوشه و کنار جهان ارتکاب می یابند و احساسات همه بشر را، صرف نظر از تابعیت مرتکب و مجنی علیه و محل وقوع آن، جریحه دار می سازند. از همین رواست که این اعمال به حق وصف بین المللی یاد می شود. اصل صلاحیت جهانی نیز به وجود آمده است تا به هر طریق ممکن از بی مجازات ماندن این قبیل جرایم جلوگیری شود. صلاحیت جهانی عبارت از توسعه صلاحیت اعمال قوانین جزائی یک کشور در رسیده گی به جرایم بین المللی است، در جایی که مجرم براساس هیچ کدام از اصول صلاحیتی دیگرسرزمینی، شخصی، مبتنی بر تابعیت مجنی علیه و واقعی قابل تعقیب توسط محکمه های آن کشور نباشد. اصل صلاحیت جهانی عبارت است از گسترش قوانین جزایی داخلی نسبت به جرایم بین المللی که در خارج از کشور صورت می گیرد. (شمس ناتری، 1391: 35)

**ب- مبانی اصل صلاحیت جهانی**

برای صلاحیت جهانی نیز مانند سایر اصول صلاحیت جزائی مبانی را ذکر کرده اند:

**1- ضرورت و جلوگیری از بی مجازات ماندن مجرمین**؛ یکی از اهداف عمده حقوق جزائی بین الملل جلوگیری از بی مجازات ماندن مجرمین است؛ برای همین منظور صلاحیت قوانین جزائی ایجاد شده است.

**2- نظم عمومی کشور محل دستگیری**؛ اصل صلاحیت جهانی ابتدا در ایتالیا ایجاد شده و بین شهرهای آن جاری گردید، در آن زمان یعنی در قرون وسطی موافقت کرده بودند که بعضی از جرایم مهم را در همان محل دستگیری متهم، محاکمه کنند. (حسینی، 1373: ص 80).

**3- نظم عمومی بین المللی**؛ نظم عمومی بین المللی یکی از مهم ترین و اساسی ترین مبانی ایجاد اصل صلاحیت جهانی به شمار می آید و برای این منظوراست که دولت ها از طریق قراردادها و معاهده های چندجانبه متعهد می شوند که اگر یکی از این قبیل مجرمان در کشور آن ها دستگیر شد تعقیب و مجازات نمایند. (پلاوسکی، 1370: ص 96)

**اصل موضوع صلاحیت جهانی**

با این وصف تردیدی نیست که حتی جنایات مهم بین المللی موضوع ماده (5) اساسنامه دیوان بین المللی جزا، یعنی جنایت نسل کشی، جنایت علیه ضد بشریت، جنایت جنگی و جنایت تجاوز دزد دریایی نیز موضوع صلاحیت جهانی محکمه های داخلی یک کشور قرار می گیرند. چنانکه در مقدمه اساسنامه محکمه جزائی بین المللی تأکید نموده است وظیفه

* نویسنده و محقق

هریک از دولت ها است که صلاحیت خود را برای کسانی که مسئول ارتکاب جنایات بین المللی اند، اعمال نمایند.

و این مطلب نیز به نحوی در ماده (17) اساسنامه مورد تأکید قرار گرفته است. (پوربافرانی، 1396: ص170)

**ج- شرایط اعمال اصل صلاحیت جهانی**

صلاحیت جهانی در حقیقت یک اصلی است که برای رفع نقص سایر صلاحیت ها بخصوص صلاحیت سرزمینی به وجود آمده است. در حقیقت بنیادی ترین اصول صلاحیت قوانین جزائی، اصل صلاحیت سرزمینی است و سایر اصول صلاحیت از جمله اصل صلاحیت جهانی برای رفع نارسایی های آن اصل به وجود آمده اند. بنابراین صلاحیت جهانی که صلاحیتی مبتنی بر دستگیری است صلاحیت فرعی به شمار آمده و فقط در صورتی که صلاحیتی عالی تر وجود نداشته باشد، اعمال می گردد.

شرایط اعمال اصل صلاحیت جهانی عبارت اند از:

1- وقوع جرم در خارج از قلمروحاکمیت کشور

2 - حضور مجرم در کشور محل دستگیری

3- وجود عهدنامه ای بین المللی مبنی بر جرم بین المللی بودن عمل و الحاق دولت به آن

4- مجرمانه بودن عمل در کشور محل دستگیری

5- عدم رسیده گی قبلی. (دو وابر، 1368: ص 141 و 1432).

**د- انعکاس اصل صلاحیت جهانی در کود جزای افغانستان**

**مصادیق صلاحیت جهانی در کود جزا**

موضوع اصل صلاحیت جهانی را ماده (26) کود جزا به گونه واضح طور ذیل بیان نموده است:

جرایمی که مطابق اسناد بین المللی جرم شناخته شده باشد، مرتکب آن در صورت یافت شدن در افغانستان مطابق احکام قوانین کشور مورد تعقیب عدلی قرار داده می شود، نظر به مصادیق که کود جزای افغانستان طی ماده 26 کود جزا در رابطه به اعمال صلاحیت جهانی بیان داشته است، یک مصادیق جامع و کاملی است.

**اعمال اصل صلاحیت جهانی در جرایم بین الملل در کود جزای افغانستان**

کود جزای افغانستان به صورت واضح و بدون کدام ابهام بیان نموده است جرایمی را که در اسناد بین الملل جرم شناخته شده باشد، اصل صلاحیت جهانی را بالای آن جرایم اعمال می کند. مانند جرایم ذیل:

1- جرایم نسل کشی

2- جرایم ضد بشری

3- جرایم جنگی

4- جرایم تجاوز علیه دولت.

کود جزای افغانستان جرایم مذکور را جرم انگاری کرده و برای آن مجازات پیش بینی نموده است که مرتکب آن هرگاه در افغانستان یافت شود مطابق این قانون مجازات می گردد. (شرح کود جزا سال 1396، ص 456)

**رعایت اصل قانونی بودن جرم و جزا در اعمال اصل صلاحیت جهانی**

اصل قانونی بودن جرایم و مجازات ها، یکی از اصول مسلم و بدیهی حقوق جزا است و رعایت آن در هر صورت لازم است. بدون شک نظام جزای افغانستان رعایت اصل قانونی بودن جرم و جزا را طی ماده 7 قانونیت جرم و جزا و طی ماده 8 عدم گسترش محدوده جرم و جزا را از قانون بیان داشته است.

در قسمت اعمال اصل صلاحیت جهانی نیز ماده 26 قانونی بودن جرم و جزا را مشروط نموده است؛ یعنی (مشروط بر اینکه این گونه اعمال در این قانون جرم شناخته شده و بر آن مجازات تعیین شده باشد). در این موضوع بعضی جرایم که در اسناد بین الملل جرم شناخته شده است اما در کود جزای افغانستان درباره آن موضوع جرم انگاری نشده است، مانند جرم دزدی دریایی که در کود جزای افغانستان جرم انگاری نشده است و به همین ترتیب بعضی از جرایم دیگر که در صورت برخورد با همچو مجرمین، دولت افغانستان باید آن را استرداد و به کشور محل یا به محکمه جزای بین الملل تسلیم کند.

## هـ - جرایم بین الملل از منظر کود جزای افغانستان

کود جزای افغانستان جرایم بین المللی را طی مواد (332 الی 343) کود جزا جرم دانسته و برای آن ها مجازات پیش بینی شده است. مبنای جرم انگاری جرایم مذکور حفظ صلح، امنیت، و اصل صلاحیت جهانی است. بنابراین بر طبق اصل، هر تبعه افغانستان یا خارجی که مرتکب این جرایم شود و سپس مرتکب در افغانستان یافت شود، طبق مواد مذکور کود جزا بر مبنای اصل صلاحیت جهانی، محاکمه و مجازات می شود. با تصویب کود جزا، افغانستان نیز این صلاحیت را دارد که اصل صلاحیت جهانی را بر جرایم بین المللی تطبیق کند؛ زیرا جرایم بین المللی یادشده را در قوانین داخلی خویش، در مواد 332 الی 343 کود جزا جرم انگاری و برای آن ها مجازات پیش بینی کرده است. علاوه بر این افغانستان، در سال 2003 به اساس نامه محکمه بین المللی جزایی ملحق شده و در این رابطه تعهد بین المللی هم دارد. (شرح کود جزا، 1398: ص 119).

### نتیجه گیری

اهمیت شناسایی اصل صلاحیت جهانی محکمه های ملی یا داخلی و تلاش دولت ها برای اعمال آن نسبت به جنایتکاران بین المللی یک گام به پیش محسوب می گردد، زیرا به موجب این اصل یك دولت می تواند نسبت به تعقیب، محاکمه و مجازات جنایاتی اقدام کند که در قلمرو آن یا توسط اتباع یا علیه ایشان ارتکاب نیافته اند. جرایم موضوع اصل صلاحیت جهانی، جرایم بین المللی است که مطابق این اصل کشورهای مختلف می توانند بدون اینکه هیچ رابطه ای با جرم، مجرم و یا قربانی جرم داشته باشند، صلاحیت رسیدگی به جرم را پیدا کنند. معیارهای این صلاحیت، محل دستگیری است.

بنابراین هر کشوری که مجرم در آن دستگیرشود صلاحیت رسیده گی پیدا کرده و مطابق اغلب قراردادها، یا خود باید به جرم او رسیده گی کند و یا اینکه او را به کشوری که خواهان رسیده گی به جرم اوست و یکی از صلاحیت های سرزمینی، شخصی، مبتنی بر تابعیت مجنی علیه واقعی را دارد مسترد کند. دولت افغانستان نیز طی ماده 26 کود جزا اصل صلاحیت جهانی را تصریح داشته و برای هر یک مجازات مشخص تعیین نموده است.

### منابع

1- پلاوسکی، بررسی اصول اساسی حقوق بین المللی کیفری، ترجمه علی آزمایش، انتشارات دهکده حقوق، دانشگاه تهران: سال 1371 هـ ش.

2- پوربافرانی، داکتر حسین، حقوق جزایی بین الملل، دهم، انتشارات جنگل، جاودانه، تهران: 1396 هـ ش.

3- حسینی نژاد، حسینقلی، حقوق کیفری بین المللی اسلامی، چاپ اول، تهران: 1373.

4- دو وابر، دون دیو، رساله حقوق جنایی و قانونگذاری جزایی مقایسه ای، ترجمه علی آزمایش، انتشارات دانشکده حقوق، دانشگاه تهران: 1368هـ ش.

5- شرح کود جزا، جلد اول، چاپ اول، انتشارات بنیاد آسیا، کابل: 1398 هـ ش.

6- شمس ناتری، داکتر محمد ابراهیم، حقوق جزایی بین الملل، دانشگاه آزاد اسلامی واحد قم، 1391هـ ش.

7- صبی، موسیف محاکمه آدولف آیشمن در دادگاه جنایی اورشیلم، چاپ خانه زنده گی، بی تا.

8- فروغی، فضل، اصل صلاحیت جهانی در حقوق جزایی داخلی و بین المللی، رساله دکتری، رشته حقوق جزایی و جرم شناسی، دانشگاه تهران: 1386هـ ش.

# له پژواک سره د بهرنیو چارو وزارت د مرستیال ویاند مرکه

د بهرنیو چارو وزارت د مرستیال ویاند حافظ ضیاء احمد تکل ځانګړې مرکه:

کابل (پژواک، د چنګاښ لومړی نېټه 1402)

پژواک: په تېر یو کال کې مو بهرني سیاست کې لاستهراوړني څه وې؟

تکل: د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د حکومت په رسمیت پېژندلو او ورسره تعامل، د افغانستان شتمنۍ آزادولو، افغانستان ته له بهره د پانګونې راجلبولو، د افغانستان او سیمې هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیټ آسانتیاوو او په بهر کې د افغانانو لپاره د قونسلي آسانتیاوو رامنځته کولو لپاره هر اړخیزې هڅې کړې، چې په دې هڅو د محترم مولوي امیرخان متقي سفرونه، کابل ته د اسیايي، اروپايي او سیمهییزو هېوادونو بهرنیو چارو وزیرانو، لوړپوړو چارواکو او ډیپلوماتیکو استازو سفرونه، لیدنې او ناستې شاملې دي او د دې ټولو موخه د نړۍ له هېوادونو سره د دوه او څو اړخیزو اړیکو بنه کول او پراختیا ده.

د بهرنیو چارو وزارت په هڅو په افغانستان کې عربي متحده اماراتو، قطر، سعودي عربستان، ایران، پاکستان، چین، روسیې، ترکیې، ازبکستان، قزاقستان، ترکمنستان، هند او ایټالیا خپل سفارتونه پرانیستي او تمه ده نور هېوادونه هم خپل سفارتونه پرانیزي.

دغه راز امریکا، انګلیستان، ازبکستان، چین، روسیې، پاکستان او نورو ګڼو هېوادونو د افغانستان له نوي حکومت سره پر مخامخ خبرو او عملي تعامل ټینګ په ټینګار کړی او د اسلامي امارت پر وړاندې یې له وسلهوال مخالفت سره خپل مخالفت ښودلی. څرنګه چې د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست اقتصاد محوره دی، نو پر همدې اساس بهرنیو چارو وزارت په اقتصادي، سوداګرۍ، ترانزیټ او سیمهییز اتصال ډېر تمرکز کړی او په دې برخو کې ډېرې لاسته راوړنې لري. د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په نه ستړې کېدونکې ډول د




اقتصادي بندیزونو لرې کولو او له افغانستان سره د بشري مرستو مسئله د خپلو فعالیتونو په سر کې ځای کړې ده، چې په پایله کې یې د اسلامي امارت له واکمنېدو راهیسې نړیوالې ټولنې له افغانستان سره مرستې کړې او اسلامي امارت په دې برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړې دي.

پژواک: لا هم هیڅ هېواد اسلامي امارت پر رسمیت نه دی پېژندلی، په دې برخه کې خنډ یا دلیل څه دی؟

تکل: دا پوښتنه باید له نړیوالې ټولنې وشي؛ ځکه چې د افغانستان اسلامي امارت ټول هغه تعهدات، مسوولیتونه او مکلیفتونه ترسره کړي کوم چې یې د دوحې په تړون کې ژمنه کړې او منحیث حکومت ورته مسوولیت راجع کېږي.

پژواک: څه فکر کوئ کوم هېوادونه به د اسلامي امارت پر رسمیت پېژندلو کې مخکې شي؟

تکل: دا ویل به سخت وي؛ خو هیله لرو چې دا لړۍ له ګاونډیو او اسلامي هېوادونو پیل شي.

پژواک: د نړۍ هېوادونه له اسلامي امارته څه غواړي؟

تکل: اسلامي امارت له نړۍ سره د تعامل لپاره چمتو دی؛ خو سفارشونه یې د منلو نه دي او په کورنیو موضوعاتو کې مداخله نه زغمي، هر هغه شی چې نړۍ یې غوښتنه لري، لکه د هېواد او سیمې امنیت؛ د هغه په تړاو اسلامي امارت د ببرته راتګ په اوله ورځ ډاډ ورکړی او په دې برخه کې یې اړین او اغېزناک ګامونه اخیستي دي.

پژواک: په وروستیو کې له بهره ډېر پلاوي راغي، د بهرنیو چارو وزارت او د اسلامي امارت له نورو چارواکو سره ګوري، دغه لیدنې څومره اغېزناکې دي؟

تکل: بې له شکه چې د هېوادونو ترمنځ د اړیکو رامنځته کېدو او پیاوړتیا په موخه د هېوادونو د پلاوو ترمنځ راشه درشه اړینه ده؛ نو د اسلامي امارت او نورو هېوادونو د پلاوو تګ‌راتګ هم په همدې موخه ترسره کېږي.

پژواک: نړیواله ټولنه په افغانستان کې له شپږم ټولګي پورته ښوونځیو او دغه راز په پوهنتونونو کې د نجونو زده‌کړو ځنډول او د ښځو پر کار وضع شوي محدودیتونه له هغو لاملونو بولي چې له مخې یې د افغانستان اسلامي امارت پر رسمیت نه پېژني، تاسو په دې اړه څه وایاست؟

تکل: نړی‌واله ټولنه دې زموږ کورني اجتماعي موضوعات نه سیاسي کوي؛ اسلامي امارت د ټولو افغانانو حقه حقوقو ته ژمن دی، په ځانګړې توګه که ووایم د نجونو تعلیم او د ښځو کار د افغانستان کورني موضوعات دي، چې کار پرې جریان لري او د امیرالمؤمنین حفظه‌الله په امر د موقت مودې لپاره موقوف شوي دي.

پژواک: تر اوسه په څو او کومو هېوادونو کې سفارتي چارې اسلامي امارت ته سپارل شوې؟

تکل: قطر، پاکستان، ایران، ازبکستان، ترکیه، قرغیزستان، چین، روسیه، امارات او په دې برسېره له ګڼو نورو هېوادونو سره مو هم اړیکې ښې دي او وخت په وخت ډیپلوماتیکو استازولیو کې قانوني ګومارنې کېږي او د چارو د بهبود او سمون لپاره مسلکي او ژمن پلاوي لېږل کېږي.

پژواک: سفارتي چارې باید هغه کسان پر مخ بوځي، چې ډیپلوماسۍ کې تخصص او تجربه ولري؛ ستاسو له خوا سفارتونو ته معرفي شوي کسان په دې برخه کې تخصص لري؟

تکل: اسلامي امارت د مسلکي او متخصصو کدرونو ګومارنې ته ژمن دی او په سفارتونو او داخل کې هم مسلکي کسان ګومارل کېږي.

پژواک: نړی‌وال بار- بار په افغانستان کې د داعش او القاعده د شتون په اړه خبرې مطرح کوي، دغو څرګندونو ته ستاسې ځواب څه دی؟

تکل: موږ بار- بار ویلي او یو ځل بیا ټینګار کوم، چې اسلامي امارت هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې د افغانستان خاوره د نورو هېوادونو پر ضد استفاده کړي.

پژواک: په افغانستان کې خونړۍ جګړه درېدلې ده؛ خو کله کله ځینې بریدونه کېږي؛ لکه په دې وروستیو کې چې په نورستان کې وشول او د ډېرو مسوولیت داعش پر غاړه اخلي، تاسو په دې اړه څه وایاست او فکر کوئ، چې دغه بریدونه د دې لامل کېږي، چې نړیوال په افغانستان کې د داعش د شتون په اړه اندېښنه وښیي؟

تکل: داعش؛ چې په افغانستان کې یوه بهرنۍ پروژه وه او په هېواد کې له ښکاره کېدو سره سم ورسره افغان ولس د اسلامي امارت تر چتر لاندې برحقه مبارزه پیل کړه، په لنډ وخت کې د اسلامي امارت تر کنټرول لاندې سیمو کې نابود شول او د کابل اداري او بهرنیو اشغالګرو تر واک لاندې سیمو کې خوندي شول؛ خو کله چې اسلامي امارت د هېواد په ټوله جغرافیه حاکم شو او فتحه راغله، نو د داعش پر وړاندې د زړورو امنیتي ځواکونو له لوري ډېر موثر او کوټلي ګامونه واخیستل شول، چې دا دی موږ او تاسو شاهد حال یو، چې په ټول هېواد کې هېڅ فعالیت او سیمه په اختیار کې نه لري او له منځه تللي دي.

پژواک: اسلامي امارت تل وایي؛ چې د افغانستان خاوره به د نورو هېوادونو پر وړاندې نه کارول کېږي؛ خو ځینې هېوادونه ادعا کوي چې د افغانستان خاوره یې پر وړاندې کارول کېږي، تاسو په دې اړه څه وایاست؟

تکل: ټولې داسې ادعاوې غلطې دي او زه یې ردوم؛ بیا هم په ټینګار وایم چې اسلامي امارت هیچا ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د نورو هېوادونو پر ضد استفاده کړي.

پژواک: په افغانستان کې په تېرو ځو حکومتونو کې بهرني سیاستونه سره متفاوت وو، اوسنی سرپرست حکومت څه ډول بهرنی سیاست لري او په بهرني سیاست کې د افغانستان سرې کرښې کومې دي؟

تکل: د اسلامي امارت بهرنی سیاست متوازن او اقتصاد محوره دی؛ موږ د ګاونډیو، سیمه‌ییزو او نړۍ له هېوادونو سره د اقتصادي ګټو او متقابل درناوي پر بنسټ د اړیکو پر پیاوړتیا کار کوو او په دې باوري یو؛ چې د یو بل د ارزښتونو په نظر کې نیولو سره به وکولای شو چې دوه اړخیزې او څو اړخیزو اقتصادي همکارۍ رامنځته کړو او د افغانستان له جغرافیې د سیمه‌ییز اتصال او ترانزیټ په برخو کې سالمې استفادې ته زمینه برابره کړو.

پژواک: له ایران، پاکستان او نورو هېوادونو څخه افغان کډوال راایستل کېږي؛ دغه چاره له تاسو سره په مشوره کېږي که څنګه او په دې برخه کې مو له نړۍوالو غوښتنه څه ده؟

تکل: اسلامي امارت په کراتو پر خپلو وګړو غږ کړی، چې په ناقانونه او قاچاقي لارو دې نورو هېوادونو ته سفر نه کوي او خپل ژوند دې په خطر کې نه اچوي؛ بې له شکه هر هېواد حق لري هغه کسان چې له قانوني اسنادو پرته ورځي، توقیف کړي او قانوني چلند ورسره وکړي؛ خو له دې سبوا موږ له ګاونډیو هېوادونو منندوی یو، چې په تېرو څلورو لسیزو کې یې د افغان مهاجرینو کوربه‌توب کړی دی؛ خو بیا هم په ډېر درناوي پر ګاونډیو هېوادونو غږ کوو چې افغانانو ته ستونزې ایجاد نه کړي او لازم تسهیلات ورته برابر کړي؛ اسلامي امارت ژمن دی؛ چې له هېواده بهر ټولو افغانانو ته خپل هېواد ته د بېرته راستنېدو زمینه برابره کړي څو هغوی په خپل کور شي او د مهاجرت له ژونده وژغورل شي.

پژواک: په لومړیو کې چې کله له افغان شخصیتونو سره د اړیکو او بېرته راستنولو کمېسیون جوړ شو، پخواني سیاسیون او مشران ډېر بېرته هېواد ته راغلل، دغه پروسه پیکه شوې نه ده؟ اوس هم یاد کمېسیون له چا سره په اړیکه کې دی او څوک راځي کنه؟

تکل: کمېسیون په دوامداره توګه له افغان شخصیتونو سره په رابطه کې دی؛ د اسلامي امارت غېږه ټولو بهرمېشتو افغانانو ته خلاصه ده، تاسو به په جریان کې یاست چې له دې طریقه یې وخت په وخت افغانان راستنېږي او په خپل هېواد کې د ژوند تېرولو زمینه ورته برابرېږي او د خوندیتوب ډاډ ورکول کېږي.

پژواک: نړیوالو او په نړیوال ډګر کې د افغانستان راتلونکي په اړه مو هېوادولو ته پیغام څه دی؟

تکل: نړۍ‌والو ته مو پیغام دا دی؛ چې په افغانستان کې پس له څلورو لسیزو وروسته سراسري او بې‌ساري سوله تأمین شوې ده، مرکزي حاکمیت رامنځته شوی، ملي امنیت تامین دی او د افغانانو په مټ د اوسني عصر یو بې مثاله اسلامي او عادل نظام حاکم شوی، چې له هر راز توپیر او تعصب پرته د خپلو افغانانو حقونو ته ژمن او ارزښتونو ته قایل دی، د دغه نظام پر وړاندې وضع شوي ظالمانه تحریمونه او اقتصادي بندیزونه دې لرې کړي او په یوه سوله‌ییزه فضا کې د متقابل احترام او اقتصادي ګټو پر بنسټ ولاړې اړیکې وپالي. اسلامي امارت د هیڅا پر وړاندې بده اراده نه لري او نه چا ته د ضرر رسولو هوډ لري، نړۍ‌وال باید واقع‌بین واوسي، نه دا چې د ځینو مغرضو کړیو او رسنیو پر خوله باور وکړي او د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې پر راغلو مثبتو پرمختګونو سترګې پټې کړي.

که پر حقایقو ولاړ قضاوت وکړو، په افغانستان کې اوسنی حاکم نظام د ټولو هېوادوالو لپاره ټول هغه څه ترسره کړي چې د ولس حق دی او د حکومت په مکلفیتونو او مسوولیتونو کې راځي. تېرو دوو کلونو ته په کتو ولس پر همدغه نظام خوښ دی او په هره برخه کې یې ورسره په ډېر ښه ډول ملاتړ کړی، د حکومت ټول فرامین یې منلي او د حکومت پر وړاندې یې هېڅ راز مخالف دریځ نه دی نیولی؛ نو دغو مواردو ته په کتلو سره ویلای شو چې نړۍ دې د افغانانو په خوښه رامنځته شوی نظام نور په بېلابېلو بهانو نه تخریبوي، افغانستان دې پرېښودل شي چې د خودکفایی او پر ځان بسیاینې لپاره یې حکومت اغېزناک ګامونه واخلي او افغانان د پردیو له احتیاجه خلاص، مترقي او ازاد ژوند ولري.

# سودای حقوق بشر جهانی؛ در جهانی واقع‌گرا؟!

سید محمد عالمی دیپلوماسی*

## مقدمه

با شکل‌گیری ملل متحد پس از جنگ جهانی دوم در سال ۱۹۴۵، بخش های زیادی از مقدمه منشور ملل تا مواد مختلف آن به حقوق بشر اشاره داشته و «پیشبرد و تشویق احترام به حقوق بشر و آزادی‌های اساسی برای همگان بدون تمایز از حیث نژاد، جنس، زبان و یا مذهب» در زمره اهداف این سازمان قرار گرفته است. تصویب اعلامیه جهانی حقوق بشر در دهم دسمبر ۱۹۴۸ توسط مجمع عمومی و ۱۸ سال پس از آن، تصویب دو میثاق بین‌المللی با عناوین «حقوق مدنی و سیاسی» و «حقوق اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی» که هر سه به عنوان «منشور جهانی حقوق بشر» خوانده می‌شوند، تلاشی در این راستا بوده و ملل متحد در تداوم این تلاش و تطبیق این سه سند، برنامه‌های متعددی را روی دست داشته است؛ تا جایی که امروز نسل سوم این حقوق تحت عنوان حقوق همبستگی (حق بر صلح، حق بر توسعه، حق بر محیط زیست و میراث مشترک بشریت) مورد توجه جهانی قرار گرفته است.

